
# الجبر (كرنيز) لاينيز

# Lineare Algebra

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډاکتر ماخان(میرزی) شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاينيز(كرښيز) الجبر ۱
بنسټيزجوړښتونه / ګروپونه او تنونه ۱
ګروپ ۱
لاندې ګروپونه ۳
ګڼونډېرۍ يا د اعدادو سټ ۳
پرموتيشونونه ( (د توكو يا اعدادو) ځای بدلون) ۴
د ځای بدلنون (پرموتيشن) څيوكليكي يا تل ۵
مودولوس ۸

لومړني تنونه يا پټي يا ورشو ۱۱
ګالويز– بدن ۱۳
په ګروبونو ياډلو كې تورنی ۱۴
وكتورفضا يا وكتوري فضا ۱۶
د n - ګوني وكتورفضا ۱۹
لاندې فضا يا برخه فضا ۲۰
ګرښيز كمبينيشن ۲۲
كرښيزه هيولې يا سپاين يا سمڅ ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتی – یا محدب کمبینیشن ۲۵

حقيقي- ياريښتونی سکالار ضرب ۲۶

سکالار ضرب ۲۷

مایل سیومتریک ۲۸

د کوشي-شوارځ – نامساوات ۳۰

نورم ۳۱

هوموګینیوالی ۳۱

د سکالار ضرب نورم ۳۲

ماکسیموم – نورم ۳۳

د حقيقي- يا ریل وکتورونو سکالار ضرب ۳۴

د کمپلکس وکتورونو سکالار ضرب ۳۵

د دوه وکتورونو ترمنځ کونج ۳۶

د پیتاګوراس(فيثاغورث) جمله ۳۷

کرښیز نابلواکوالی یا ۳۹

بنسټ Basis ۴۲

بعد یا پراخیدونی Dimension ۴۴

اورتوګونال یا ولاړ بنسټ ۴۶

اورتوګونال پروجکشن ۴۹

د ګرام-شمیت تګلار یا قانون ۵۱

کرښیزه څیرونه (فنکشن یا تابع) ۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرښيزو توابعو کمپوزيشن ۵۷
ماتريکس ۵۸
يو کرښيز فنکشن يا تابع ۶۱
يو کرښيز فنکشن يا تابع ۶۳
Bild او Kern معنا ښيره يا شکل او زړي ۶۵
معکوس يا په ښت تابع (ښيرونه يا فنکشن ۶۷
د ماتريکسونو وکتورفضا ۶۹
د ستراسن( وبينه: شتراس) الګوريتم ۷۱
کوموتاتور ۷۲
په ښت يا معکوس ماتريکسونه ۷۴
تراسپوني او ادجونګيري ماتريکسونه ۷۶
شپور Spur ۷۸
د يوه ماتريکس رانګ ۷۸
د يوه ماتريکس نورم ۸۰
هوموحنيتي: ۸۱
هوموحنيتي: ۸۳
د ماتريکس د ډکوني جوړښت ۸۴
اورتوګونال او يونيتار ماتريکسونه ۸۴
د هادامارد – ماتريکسونه ۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فوریر (ویینه: فوریې) ماتریکسونه ۸۶
نورم ریښتونې یا - وفاداره اورتوګونال ا و یونیتار ۸۷
څیوکلیکي ( تلبیرته راګرځېدوني) ماتریکسونه ۸۹
ستوښاستیکي ماتریکسونه ۹۰
دیترمینانت د انتیسیومتري کرښیزفورم په حیث ۹۱
2 - لیکیزه دیترمینانت ۹۴
د ساروس شیما یا شکل ۹۵
لوریز حجمونه ( ډکي) ۹۶
د دیترمینانتونو لپاره قاعدې ۹۸
د ځانګړو ماتریکسونو دیترمئناتونه ۱۰۱
د دیترمینانتو بڼه بدلون ۱۰۴
د دیترمینانتو ودیزیینه ۱۰۵
د 3 ټکو له لارې د یوې سطحې ۱۰۸
د واندرموند – دیترمینانتونه ۱۱۱
کرښیز مساوات سیستم ۱۱۲
برېښنایي جریاندایره ۱۱۴
د یوه کرښیز مساوات سیستم حلوړوالی ۱۱۵
دیترمینانت او د یوه مساوات سیستم حلوړوالی ۱۱۸
د کرامر قاعده ۱۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څښ لور ځای په ځای کول ۱۲۳

د ګاوس ترانفورميشن ۱۲۵

د ګاوس د له منځه وړنه ۱۲۶

د ايښيلون بڼه ۱۲۹

د ايښلون- بڼه د يوه ل م س (کربنيز مساواتسستم)حل ۱۳۱

رانګ او د ک م س(کربنيز مساواتسيستم) حلوړوالی ۱۳۴

د انډول کربڼه( انډولکربڼه) ۱۳۵

د برابرونې حل يو بل سره يوغږيز........ ۱۳۷

الجبر - کربنيز مساوات سيستم-برابرونې پرابلم ۱۳۸

نورمالمساواتونه ۱۳۸

توموګرافي ۱۴۱

آيګن-ارزښت او آيګو-وکتور ۱۴۳

ورته والي – ترانفورمېشن ۱۴۵

کرکتريستکي پولينوم ۱۴۷

الجبری او هندسي ډېرځلوالی ۱۵۰

د آيګن –ارزښتونو جمعه او ضرب ۱۵۲

د ماتريکسونو ريښتونی توابع ۱۵۴

د آيګن – وکتورونو بنسټ ۱۵۵

د ځيوکليکي ماتريکسونو دياګونالونه ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماتريکسونو توان ۱۶۰
د فيبوناچي پرلپسې يا – ترادف ۱۶۲
نورمال ماتريکسونه ۱۶۴
نورمال ماتريکسونه... ۱۶۵
مثبت ديفينيت ماتريکسونه ۱۷۰
ريلا ي – ويش ۱۷۰
مثلث بڼه ۱۷۱
اصلي وکتورونه ۱۷۳
د اصلفضا ځيوکليکي بنسټ ۱۷۵
د جوردان بڼه ۱۷۹
د (4x4) -ماتيکسونو جوردان-بڼې ۱۸۶
په زيګولار ارزښت ټوټه کونه ۱۸۹
فاسد معکوس ۱۹۱
د توپوګرافيکي کچونداتنونو ټيکاوی يا اصلاح ۱۹۶
د مور-پينروز-شرطونه ۱۹۷
اورتوګونال او ځانګړي اورتوګونال ګروپونه ۱۹۸
هندارونه ۱۹۹
څرخون ۲۰۰
څرخونمحور او څرخونکونج ۲۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو خرخون په ضربيپونو ټوټه كونه ۲۰۵

څرخونماتريكس ۲۰۸

مربعيزه فورم(بڼه) ۲۱۰

كوادريكونه ۲۱۱

د كوادريكونو شډله ټوټه ونه ۲۱۲

اصلي- محور –ترانفورميشن ۲۱۴

مخروط غوڅی ۲۱۸

د دوه بعدې كوادريكونو د اوكليدي نورمال بڼه ۲۲۰

د ډاكتر ماخان شينواري ليكنې ۲۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

زه د سریزې په هکله ډېر څه نه لیکم، خو دې ته ګوته نیسم، چې ما د دې سرلیک لاندې دوه لیکنې کړي. دا مخ ته پرته د هغو لوستونکو لپاره ده، چې د شمیرپوهنې سره داسې لږڅه بلدتیا ولري، دا به ښه وي، خو اړینه هم نه ده.

دا لیکنه خورا مفصله ده نسبت هغې بلې ته

تر مخ راوړنه: فنکشن که په نورو ژبو کې وکورو، نو په پښتو ژباړه به یې ځیره کونه ( لنډ : ځیره ونه) وي. په فنکشن کې یو څه په یو بل څه یا خپل ځان ځیره کیږي. چې لومړی یې ځیره کوونکی او دویم یې ځیره ده یعنې دوه مجهولې یا واریابلې دي، چې یوه په بله ځیره کیږي. لومړی خپلواک دئ او دویم یې د لومړي په واک کې دی، نو له دې امله م عربي تابع بللې، یعني دا د فنکشن تابع ده، چې موږ به یې هم دا ناسم نوم وکاروو، چې ګران شمیرپوهان راته په قهر نه شي.

که زما په دې لیکنه کې ځیرونه راځي، نو هغه یې زموږ په ناسمه توګه همغه تابع ده. دا مو مو پوهیږم، چې له پامه نه لویږي.

ما په یو ځل ډېر ةتابونه وژباړل او ولیکل، چې لیکنیز تاتیکاوي به ولري. د هغې به راته بخښنه وکړئ. دا څه چې تاسو ته وړاندې کیږي، پوره :تور دي او دې ته دې ریاته پامرنه وشي.

دا زما ټولې لیکنې به تر یوې اندازې ستونځې ولري، خو باور وکړئ، چې غوټې پسې وهئ په لاس درځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه: د    ټولنې او په ځانګړي ډول د هغې د مشر ښاغلي ډاکټر يحی وردګ څخه زياته مننه، نه داچې زما کتابونه يې [اپ ته ورسول بلکه په دې کار کې يې بط سارې هڅې کړي او بې له شکه يې خپلو يوادوالو ته ستر خدمت کړي، کور دې ودان وي، لوي څښتن دې ورته اجرونه ورکړي او د لا ډېرې برياوو په هيله دې زموږ دعا ورسره مل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاينيز(کرښيز يا خطي) الجبر

# بنسټيزجوړښتونه / ګروپونه او تنونه

# Grups and fields

## ګروپ

د يوه ګروپ $(G,\diamond)$ لاندې يوه ډېرى $G$ پوهيږو، په هغې چې يو دوه ييزه کارونه يا عمليه $\diamond$ داسې پيژندل ولري يا تعريف شوي.

$$\diamond : G \times G \longmapsto G\,,$$

دا په دې مانا، چې هره جوړه $(a, b)$ د $a, b \in G$ سره د $a \diamond b \in G$ يو توکى باندې تنظيم دى. برسيره پردې لاندې خويونه بايد باور ولري:

:Assoziativitätاسوښياتيو والى يا اسوښياتيو قانون

$$(a \diamond b) \diamond c = a \diamond (b \diamond c) \qquad \forall a, b, c \in G$$

neutrale Element ناپيلى توکى: يو يواځنى ټاکلى ناپيلى توکى $e \in G$ شته دا په دې مانا ، چې

$$e \diamond a = a \diamond e = a \qquad \forall a \in G$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



Inverses Element مخامخ یا په ضد توکی یا برعکس توکی: هر توکي $a \in G$ ته یو یواځنی ټاکلی مخامخ یا یه څټ یا برعکس توکی $a^{-1} \in G$ شته د $a \diamond a^{-1} = a^{-1} \diamond a = e$ سره

ګروپ کموتاتیو یا د ابل ( ابل Abelد شمیرپوه نوم دی) ګروپ بلل کیږي، که کارونه $\diamond$ کموتاتیو وي:

$$a \diamond b = b \diamond a \qquad \forall a, b \in G\,.$$

له اړوندتوب څخه لیدل کیږي، چې کومه کارونه کارول کیږي، نو زیات وخت د $(G, \diamond)$ په ځای فقط $G$ لیکل کیږي.

په باندي(بیجکتیو) رییل فنکشنونه یا توابع(بلواک) bijective real Functions

د $f: \mathbb{R} \to \mathbb{R}$ د $\circ$ یو په بل پسې کاروني له مخې یو ګروپ جوړوي.

ساده ازمایل کیدی شي، چې یو په بل پسې اینونه اسوشیاتیو ده :

$$((f \circ g) \circ h)(x) = f(g(h(x))) = (f \circ (g \circ h))(x)\,.$$

ناپیلی توکه په روښانه توګه لاندې فنکشن دی

$$e: \quad x \to x$$

بالاخره هر په باندي بلواک لپاره یو په څټ بلواک شته دی

$$f^{-1}: \quad f(x) \to x\,.$$

یو په بل پسې ترنه کموتاتیو نه ده : د بیلګې په توګه لاندې لرو :

$$f: \; x \to 2x\,, \quad g: \; x \to x+1$$

$$f \circ g \neq g \circ f\,.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(g(x)) = 2(x+1) \neq 2x+1 = g(f(x))\,.$$

## لاندې ګروپونه

د يوه ګروپ $(G,\diamond)$ لپاره $(U,\diamond)$ لاندې ګروپ بلل کيږي، که $U$ د $G$ برخدېرى وي او $(U,\diamond)$ پخپله يو کروپ جوړ کړي

ددې لپاره ، چې و ازمايو ، چې ايا $U$ و ترڼي $\diamond$ ته يو ګروپ جوړوي ، که نه، نو ازمايو ، چې $U$ و نښلوني $\diamond$ ته او د په څټ جوړښت ته بنده ده. ياني باور لري:

$$a \in U \;\Rightarrow\; a^{-1} \in U \quad \text{او} \quad a,b \in U \;\Rightarrow\; a \diamond b \in U$$

## ګڼوندېرى يا د اعدادو سټ the set of numbers

$$\mathbb{Z} \subset \mathbb{Q} \subset \mathbb{R} \subset \mathbb{C}$$

Z و جمعې(زياتون) ته يوکموتاتيو ګروپ دى، خوندي لرنې يا اينکلوزيون ته ټول ګڼونه و $\mathbb{Q},\mathbb{R}$ او $\mathbb{C}$ ته يو لاندې ګروپ جوړوي او راشنل ګڼونه و $\mathbb{R}$ او $\mathbb{C}$ ته او رييل ګڼونه وکمپلکس ګڼونو ته يو لاندې ګروپ جوړوي.

که چيرې صفر لرې شي، نو ضرب يا ځله ونه هم يو ګروپ جوړښت تعريفوي:

$$\mathbb{Q}\backslash\{0\} \subset \mathbb{R}\backslash\{0\} \subset \mathbb{C}\backslash\{0\}\,.$$

## تړاو جدول يا تړاوتخته

کارونه$\diamond$ په پاې ګروپ $G = \{g_1, \ldots, g_n\}$ باندې کيدى شي د تړاوماتريکس

$$A: \quad a_{i,j} = g_i \diamond g_j$$

له لارې روښانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې ځيرونه ( بې له پرموتېشن يا بدلون څخه) آول تړاوجوړښتونه ښايي د يوه ګروپ لپاره د $n \le 4$ سره :

$n=2$

| $\diamond$ | $e$ | $a$ |
|---|---|---|
| $e$ | $e$ | $a$ |
| $a$ | $a$ | $e$ |

$n=3$

| $\diamond$ | $e$ | $a$ | $b$ |
|---|---|---|---|
| $e$ | $e$ | $a$ | $b$ |
| $a$ | $a$ | $b$ | $e$ |
| $b$ | $b$ | $e$ | $a$ |

$n=4$

| $\diamond$ | $e$ | $a$ | $b$ | $c$ |
|---|---|---|---|---|
| $e$ | $e$ | $a$ | $b$ | $c$ |
| $a$ | $a$ | $e$ | $c$ | $b$ |
| $b$ | $b$ | $c$ | $e$ | $a$ |
| $c$ | $c$ | $b$ | $a$ | $e$ |

$n=4$

| $\diamond$ | $e$ | $a$ | $b$ | $c$ |
|---|---|---|---|---|
| $e$ | $e$ | $a$ | $b$ | $c$ |
| $a$ | $a$ | $e$ | $c$ | $b$ |
| $b$ | $b$ | $c$ | $a$ | $e$ |
| $c$ | $c$ | $b$ | $e$ | $a$ |

دا ګروپونه ټول ابل ګروپونه دي، لکه د ماتريکس $A$ د سيومتري ( $a_{i,j} = a_{j,i}$ )چې ليدل کيږي.

لومړی نااېل ګروپ شپږ توکي لري او د $\{1,2,3\}$ توکو د پروتېشن له مخې پېژندل کېدی شي

Permutations پرموتيشونونه ( (د توکو يا اعدادو) ځای بدلون)

د په خوښه ډېرۍ M لپاره د بيجکشن ( په کې ځيرونه يا په کې فنکشن) لاندې له M په Mکې ، چې کمپوزيشن کارونه يا ځيرونه يی د کاروني په ځير وي، يو ګروپ پوهيږوو داسې په نامه د M سيومتري ګروپ.

لنډ : د M په M کې ځيروني ته پرموتېشن يا بدلون وايو.

که $M=\{1,2,\ldots,n\}$ وي، نو د سيومتري ګروپ $S_n$ څخه غربيږو، چې ګراد يا درجه يې n وي.

د $S_n$ ډېرۍ د $\pi$ توکي $n!$ پرموتيشن يا بدلون بلل کيږي او داسې يې ليکو

$$\pi = \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 & \ldots & n \\ \pi(1) & \pi(2) & \pi(3) & \ldots & \pi(n) \end{pmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمېټیشنګروپ په ټولیزه توګه کموتاتیو نه دی، لکه د لاندې بیلګې څخه لیدل کیږي

$$\begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 \\ 2 & 1 & 3 \end{pmatrix} \circ \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 \\ 3 & 2 & 1 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 \\ 3 & 1 & 2 \end{pmatrix} \neq \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 \\ 3 & 2 & 1 \end{pmatrix} \circ \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 \\ 2 & 1 & 3 \end{pmatrix}$$

د ځای بدلنون (پرموتیشن) څیوکلیکي یا تل بیرته راګرځیدونی لیکندود:

پرموتیشنونه داسې په نامه څیوکلیکي لیکندود له لارې هم ورکول کیږي..یو څیکلوس یا تل بیرته راګرځیدنه د یوه توکي او د هغه له څېرو، چې ډیرځله د بدلون یا پرموتیشن له لارې منځ ته راځي، جوړه ده، تر څو چې بیرته هغه پیل توکي یا وتونتوکي ته ورسیږي. د هغو توکو څخه، چې په لومړي تلبېرته راګځیدنې کې منځ ته نه راځي، نور څیوکلونه جوړیږي ، تر څو ټول توکي رامنځ ته شي. څیکلونه د توکو د ګڼون(تعداد) ټیټیدونکي یا لوېدونکي ډول تنظیم کیږي او په کږو نوکانوکې یو پر بل پسې لیکل کیږي. هغه څیوکلونه یا تلبیرته راګرځیدوني ، چې اوږدوالی یې ۱ وي نه لیکلکیږي.

د بیلګې په توګه دی

$$\pi = \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 & 4 & 5 & 6 \\ 4 & 3 & 2 & 6 & 5 & 1 \end{pmatrix} \equiv (1\,4\,6)\ (2\,3)\ (5)$$

همداسې

$$\pi = (1\,4\,6)\ (2\,3)\ .$$

د پرموتیشن ترانسپوني کوونه یا په بل ډول لیکنه او سیګنوم

یو ترانسپوزیشن (ځای بدلون)

$$\tau = (j\ k)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د j او k بدلون دی. ددې ساده یا بنسټیز پرموتیشن ترڼې سره دا پرموتیشن $\pi$ داسې انځورېدی شي:

$$\pi = \tau_1 \circ \cdots \circ \tau_m \, .$$

دلته برابرازښتوالی ( جوړه یا ناجوړه m ) یواځنی ټاکلی دی، او

$$\sigma(\pi) = (-1)^m$$

د پرموتیشن مخ نخښې یا د پرموتاشن زیګنوم $\pi$ په څیر $\pi$ ټاکو یا تعریفوو.

د

$$\tau_1 \circ \cdots \circ \tau_m = \pi \in S_n$$

لپاره او د $k = \pi(n)$ سره دی

$$\tilde{\pi} = (k, n) \circ \pi \in S_{n-1} \, ,$$

څکه چې د ترانسپوزیشن کمپوزیشن سره n کره په ځای نیول کیږي یا ځای په ځای پاتیږي. ایندوکتیوInduktiv ( د ځانګړي په تولیز پایونه) کیدی شي و نیول شي یا فرض شي، چې برابرارزښتوالی یا پاریټي د $\tilde{\pi}$ په ایندوڅیري ټوټه ونه کې یواځنی ټاکلې ، پسې د $(-1)^m$ مخنخښه.

ددې لپاره، چې د پرموتیشن

$$\pi = \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 & 4 & 5 & 6 \\ 6 & 5 & 3 & 1 & 2 & 4 \end{pmatrix}$$

سیګنوم و ټاکو، نو

$$(\pi(1), \ldots, \; \pi(6)) = (6, \; 5, \; 3, \; 1, \; 2, \; 4)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټرانسپوزيشن سوکځيسيو ( sukzessiv) پل په پل يو بل پسې) د کانوني لړۍ پرلپسې په ځير ليکنې ته بيايو:

$$(1\ 6):\qquad (1\ 5\ 3\ 6\ 2\ 4)$$

$$(2\ 5):\qquad (1\ 2\ 3\ 6\ 5\ 4)$$

$$(4\ 6):\qquad (1\ 2\ 3\ 4\ 5\ 6)\,.$$

په دې پسې يا له دې امله

$$(4\ 6)\circ(2\ 5)\circ(1\ 6)\circ\pi$$

کټمټوالی يا ايدنټيک ده، همداسې

$$\pi=(1\ 6)\circ(2\ 5)\circ(4\ 6)$$

او

$$\sigma(\pi)=(-1)^3$$

الترناتيو يا بديلې سرۍ کړۍ شي ځويکليکي ليکډوله وکارول شي:

$$\pi=(1\ 6\ 4)\ \ (2\ 5)\ \ (3)\ .$$

ځکه چې د k اوږدوالي يوه ځيوکلوس $\tau$ لپاره $\sigma(\tau)=(-1)^{k-1},$ دی

$$\sigma(\pi)=(-1)^2\cdot(-1)^1\cdot(-1)^0=-1\,.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مودولوس Modulus

(كه دوه ګڼونه ١٣ او ٥ ولرو او ١٣ په ٥ وويشو، نو لاس ته ٢ راځي د ٣ ياتې سره. دا داسې ليکو:

13 : 5 = 2

ياتې 3

ليکلی شو 0 = 5 : ( 3-13) دا په دې مانا چې ګڼ ٥ ګڼ3-13 وېشي

پيژند (تاكونكى يا تعريف ) كه تولګڼونهx او y او يو طبيعي عدد يا پيداښتي ګڼ a ولرو ، نو وايو ،، x كونګروانېڅy مودولو a (mod a) دە،، په نخښنه x≡ymod a ، که x≡ymoda نه وي، نو واي چې : x د y سره كونګروانېځ مودولو a(moda) نه ده ،،يعني x≢ymod a

مودولوس Modulus

لرو a > 0 او $x \in \mathbb{R}$ . د $x \bmod a$ ( لوستل : x مودولو a )لاندې په a باندې د x وېشنې پاتې پوهيږو، دا په دې مانا، چې

$$x \bmod a = x - na \in [0, a)$$

د يوه تولګڼn لپاره . كه باور ولري

$$x \bmod a = y \bmod a\,,$$

نو x او y كونګروانېڅ مودولو a بلل کيږي.

پاتيتولګى(باقي-)( مودولو) modulo n

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرۍ $\{0, 1, \ldots, n-1\}$ د ابل ګروپ جوړوي د زیاتون یا جمعې

او د $\mathbb{Z}_n = \mathbb{Z} \bmod n$ سره په نخښنه کیږي.

پام دې وي، چې ضرب modulo $n$ په $\mathbb{Z}_n$ د ګروپ جوړښت نه تعریفوي، خکه چې 0 په څټ توکی نه لري.

د دې روښانه بیلګې $\mathbb{Z}_4 = \{0, 1, 2, 3\}$ په بنسټ اسان ارماېښت کیدی شي، چې زیاتون یا جمعې، همداسې کمون یا تفرق د مودول – کارونې یا عملیې سره زغموږ دي.

د بیلګې په توګه دی

$$1 + 3 \bmod 4 = 0, \quad 0 - 2 \bmod 4 = 2$$

او داسې نور

سره له دې خل مودولو ۴ (modulo $4$) مو د ګروپ تیوري ته نه لارښودوي، خکه چې

$$1 \cdot 2 \bmod 4 = 3 \cdot 2 \bmod 4 = 2.$$

دا د ناپیلي توکې د یواځیوالي سره په مخامخوالي یا تضادګې پروت دی

## بدن( جسم یا تن یا پټی Field)

یوه ډېرۍ ( سټ) چې په هغه کې یوه جمعه ``+,, او یو ضرب ``٠,, تعریف وي، بدن یا پټی یا ورشو بلل کیږي، که لاندې خویونه په کې باور ولري:

اول – د ګروپ د جمعې یا زیاتیز جوړښت: $(K, +)$ یو ابل ګروپ دی د توکی( سفرتوکي) سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې معنا چې د ټولو $a, b \in K$ لپاره باور لري.

| | | |
|---|---|---|
| $b+a$ | $=$ | $a+b$ |
| $a+(b+c)$ | $=$ | $(a+b)+c$ |
| $a$ | $=$ | $a+0$ |
| $0\,,$ | $=$ | $a+(-a)$ |

دويم – دلته $(-a)$ د $a$ په څېر يا معکوس توکی دی.

دريم – د ضرب ګروپي جوړښت: $(K\backslash\{0\},\cdot)$ يو د ابل ګروپ دی د ناپيلي توکي $1$ سره( يوي توکی يا که غواړئ واحد توکی) دا په دې معنا چې د ټولو $a, b, c \in K\backslash\{0\}$ لپاره باور لري:

چيرته چې $(-a)$ و $a$ ته په څېر يا پرعکس توکی دی.

د ضرب ګروپي جزړښت : $(K\backslash\{0\},\cdot)$ يو ابلګروپ دی د ناپيلي توکي ( يوي توکی)، دا په دې معنا چې د تولو $a, b, c \in K\backslash\{0\}$ لپاره صدق کوي

a.b=ba

(a,b).c=a.(b.c)

a.1=a

1= $a \cdot a^{-1}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوم سره چې $a^{-1}$ د $a$ په څټ يا برعکس توکی دی.

ديستريبيوتيو قانون: $a \cdot (b+c) = a \cdot b + a \cdot c$ د ټول $a, b, c \in K$ لپاره.

د ريښتونو اعدادو $\mathbb{Q}$ ډېری، د حقيقي اعدادو $\mathbb{R}$ ډېری او د کمپلکس اعدادو $\mathbb{C}$ ډېری

د شميرني قاعده يې سملاسي د اړونده تړني له لارې لاس ته راځي. صفرتوکی يې $0$ او يويتوکی يې $1$.

همداسې يې د کمپلکس عدد $z = x + \mathrm{i}y \neq 0$ يوي توکی نسبت و ضرب ته $w = \frac{x}{x^2+y^2} + \mathrm{i}\,\frac{-y}{x^2+y^2}\,,$ دی، ځکه چې لرو:

$$z \cdot w = (x + \mathrm{i}y)\left(\frac{x}{x^2+y^2} + \mathrm{i}\,\frac{-y}{x^2+y^2}\right) = \frac{x^2 - \mathrm{i}^2 y^2}{x^2+y^2} + \mathrm{i}\,\frac{-xy+yx}{x^2+y^2} = 1 + \mathrm{i}0\,.$$

## لومړني تنونه يا پټي يا ورشو

د هر لومړني عدد $p$ لپاره $\mathbb{Z}_p = \{0, 1, \ldots, p-1\}$ د ډېريو يو تن دی د د جمعې او ضرب موډولو $p$ سره.

د په څټ – يا برعکس توکي شتون پورې ، نسبت و ضرب ته د تنونو لپاره همدا اوس په ټول اعدادو کې او د باقيتولګيو لپاره به ميراث پاتي شي.

د $a \in \{2, \ldots, p-1\}$ لپاره کيدی شي $a^{-1}$ په لاندې توګه جوړ شي. لومړی سړی په پام کې نيسي چې، $a^i \neq 0 \bmod p \quad \forall i \in \mathbb{N}\,.$ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که $a^i = np$ وی، نو د لومړي تن تجزيې څخه به ولرو، چې په $p$ ويشل کيږي، څه چې د $a < p$ له امله ناشونی دی. که اوس
پرلپسې $a^i \bmod p, \quad i = 0, \ldots, p-1$ , په پام کې ونيسو

، نو بايد کم له کمه يو پاتې دوه واره رامنځ ته شي، يعني
$a^{i_1} = a^{i_2} \bmod p\,, \quad i_1 < i_2$
به ضدق وکړي. له دې سره به وي:
$$a^{i_2 - i_1} = a^{i_2 - i_1 - 1} a = 1 \bmod p\,,$$

له کوم سره به چې $a$ ته په برعکس توکی پيدا شوی وي.

په لومړني تن $\mathbb{Z}_5$ کې برعکس توکي دي

| | | |
|---|---|---|
| $2^{-1}$ | $=$ | $3 \bmod 5$ |
| $3^{-1}$ | $=$ | $2 \bmod 5$ |
| $4^{-1}$ | $=$ | $4 \bmod 5\,.$ |

که $a^i = np$ وی، نو د لومړني ضريب تجزيې څخه به مو لرودی، چې $p$ وېشي، څه چې د $a < p$ له امله ناشوني دي. که اوس پرلپسي يا
$a^i \bmod p, \quad i = 0, \ldots, p-1$ , په پام کې ونيسو، نو بايد کم له کمه يو باقي دوه واره رامنځ ته شي، پس $a^{i_2 - i_1} = a^{i_2 - i_1 - 1} a = 1 \bmod p\,,$ به صدق وکړي د کوم سره به چې د $a$ برعکس توکی پيدا شوی وي.

په لومړني تن $\mathbb{Z}_5$ کې په څټ – يا برعکس توکي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$2^{-1} = 3 \bmod 5$$

$$3^{-1} = 2 \bmod 5$$

$$4^{-1} = 4 \bmod 5\,.$$

د دې سره د بېلګې په توګه $\frac{(2+4)}{3} \bmod 5 = \frac{1}{3} \bmod 5 = 2$ همغږيز دی له دې لاندې سره.

$$\frac{2}{3} + \frac{4}{3} \bmod 5 = 2 \cdot 2 + 4 \cdot 2 \bmod 5$$

$$= 4 + 3 \bmod 5$$

$$= 2\,.$$

## ګالويز– بدن Galois-Körper

تن$GF[2^2]$ د 4 توکو سره د جمعي او ضرب د ترنو له لارې کيدی شی ورکړل شي:

| + | 0 | 1 | $a$ | $b$ |
|---|---|---|---|---|
| 0 | 0 | 1 | $a$ | $b$ |
| 1 | 1 | 0 | $b$ | $a$ |

| $\cdot$ | 0 | 1 | $a$ | $b$ |
|---|---|---|---|---|
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 1 | 0 | 1 | $a$ | $b$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $a$ | $a$ | $b$ | 0 | 1 | $a$ | 0 | $a$ | $b$ | 1 |
| $b$ | $b$ | $a$ | 1 | 0 | $b$ | 0 | $b$ | 1 | $a$ |

دا مخ ته پروت جوړښت اصول داسې ساده نه دی، لکه په لومړنيو تتونو $\mathbb{Z}_p$ کې او د گالويز له خوا پيدا شوي دي. دا په تړليږه توگه کېدی شي د تنړنړ ځخه د $p^\ell$ توکو سره $\ell \in \mathbb{N}$، د په خوښه لپاره لومړنی عدد $p$ لپاره اجرا کړي يا سرته ورسوي، او کېدی شي و ښوول شي چې په دې توگه ټول تتونه لاس ته راوړي.

په گروبونو کې تورنی ( لکه د مسابقې لپاره جمتو کيدو گروپ)

به کابل، غزني او ننگرهار کې په څلورو مهالوبش( وختونو) د نهو ډلو په منځ کې مسابقه بيل کيږي. د لته دي ،، هر يو د هر يو په مقابل کې،، لوبه وکړي. دا يه دې معنا چې په هر مهالوبش دې درې گروپونه د هر درې ډلو څخه لوبه وکړي، چې په هرو دې درې ځايونو کې دې لوبه وشي. ستونځې په دې کې پرتې دي، چې يو بل بايد سره غوځ يا قطعه نه کړي، هره جوړه د $3 \cdot 4$ گروپونو کې بايد يو ځل رامنځ ته شی

د شميرپوهنې له مخې دا مسأله په لاندې ډول فرمولولی شو: دا $3$ توکيزې ډېری

$$S_{0,k} \cup S_{1,k} \cup S_{2,k} = \{1, \ldots, 9\}, \quad k = 0, \ldots, 3$$

دې وټاکل شي، چې د دوه ډېريو غوڅې ماکسيمال يو توکی خوندي ولري.

د دې شرايطو سره د دې مخه نيول کيږي، چې د گروپونو ډېری چې د لوبو ورځې يې مختلفې دي، گډه د لوبدلو جوړه خوندي ولري..

(c) ketabton.com: The Digital Library




د $S_{j,k}$ ډېرى د لومړنى تن $\mathbb{Z}_3$ په مرسته جوړ ېدلاى شى.. د لته د لوبډلې نمرې $1,\ldots,9$ د نهه توکیزه ،، پاى سطحې،، دټکو $(\alpha,\beta), \quad \alpha,\beta \in \mathbb{Z}_3$ سره په نخښه کېدى شي او دا په نخښه شوى ،، پاى سطحه،، ډېرى د دې سطحې د کرښوسره په نخښه کېدى شي:

$$S_{j,k} = \{(\alpha, k \cdot \alpha + j \bmod 3):\ \alpha = 0,1,2\},$$ ( کرښه د $k = 0,1,2)$ جګېدني سره )

$$S_{j,3} = \{(j,\alpha):\ \alpha = 0,1,2\}$$ ( ولاړه یا عمود کرښه ).

داګروپ وېشنه په لاندې شکل کې لیدوړ ده:



همدا مسأله د 16 تیمونو سره ده ، 4 ښارونو او پنځه مهالوېش سره په ورته ډول حل کېدى شي. سرى 4-توکیزه ګالویز تن $GF[2^2]$ او لاندې ګروپ وېش لاس ته راوړو:

| | لوبځاى1 | لوبځاى2 | لوبځاى3 | لوبځاى4 |
|---|---|---|---|---|
| لومړى لوبورځ | 1,2,3,4 | 5,6,7,8 | 9,10,11,12 | 13,14,15,16 |
| 2-مه لوبورځ | 1,6,11,16 | 5,2,15,12 | 9,14,3,8 | 13,10,7,4 |
| 3 -مه لوبورځ | 1,10,15,8 | 5,14,11,4 | 9,2,7,16 | 13,6,3,12 |
| 4 -مه لوبورځ | 1,14,7,12 | 5,10,3,16 | 9,6,15,4 | 13,2,11,8 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 4,8,12,16 | 3,7,11,15 | 2,6,10,14 | 1,5,9,13 | 5 -مه لوبورځ |

په ټولیزه توګه د لیل د $q^2$ لوبډلو او q بنارونو لپاره دلیل شوونی دی، هلته چې q د یوه لومړني عدد توان دی، ځکه چې د داسي یوه عدد q لپاره تن GF(q) شتون لری.

## وکتورفضا یا وکتوري فضا

یو ابل ګروپ $(V, +)$ وکتورفضا په یوه تن $K$ یا $K$ -وکتورفضا بلل کیږی، که یو سکالار ضرب ``·,, تعریف وي، چې $(\lambda, v) \in K \times V$ په ضرب $\lambda \cdot v \in V$ تنظیم او لاندې خویونه ولری..

د ټولو سکالار $\lambda, \lambda_1, \lambda_2 \in K$ او ټولو وکتورونو ، $v$ ، $v_2 \in V$ ، $v_1$ لپاره صدق کوی:

$$(\lambda_1 + \lambda_2) \cdot v = \lambda_1 \cdot v + \lambda_2 \cdot v$$

$$\lambda \cdot (v_1 + v_2) = \lambda \cdot v_1 + \lambda \cdot v_2$$

$$(\lambda_1 \cdot \lambda_2) \cdot v = \lambda_1 \cdot (\lambda_2 \cdot v)$$

$$1 \cdot v = v .$$

که $K = \mathbb{R}$ یا $K = \mathbb{C}$ وی، نو سږی د یوه حقیقي همداسي کمپلکس وکتورفضا غږیږو او په ټولیزه توګه د سکالار ضرب لپاره ټکي ځخه تېرېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام دې وي، چې د حمعې علامه د $V$ په همداسې په $K$ کې کارول کیږي. همداسې ضرب هم په $K$ کې د ضرب لپاره کارول کیږي. پای

د تعریف سره سم په ځانګړي ډول په وکتورفضا کې د ګروپ اکسیومونه ضدق کوی:

اسوشیاتیو قانون:

$$(v_1 + v_2) + v_3 = v_1 + (v_2 + v_3)$$

ضفر توکی( صفروکتور) : تیک یو توکی $0 \in V$ د $v + 0 = v$ سره شتون لري ، د ټول $v \in V$ لپاره.

نسبت و جمعې ته په څټ – یا معکوس توکی: د ټولو $v \in V$ لپاره تیک یو $-v \in V$ شتون لري د لاندې سره:

$$v + (-v) = 0$$

د جمعې بدلون قانو:

$$v_1 + v_2 = v_2 + v_1$$

غوښتونکی شرایط تنظیموي، چې جمعه، کمون یا تفریق او ضرب دا ورسره بلد شمیرقوانین پوره کوي.. سړی داسې کړی شي چې ضرب سر ته ورسوي:

$$\left(\sum_i \lambda_i\right) \cdot \left(\sum_j v_j\right) = \sum_i \sum_j \lambda_i \cdot v_j \,.$$

سربیره پردې د مخ نخښې قانون صدق کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$-(-v) = (-1)\cdot(-v) = v, \quad -\left(\sum_i v_i\right) = \sum_i -v_i \,.$$

د $\text{Gard} \le n$ (درجې) پولینوم

$$p(x) = a_0 + a_1 x + \cdots + a_n x^n, \quad a_i \in \mathbb{R} \quad (a_i \in \mathbb{C}),$$

یو حقیقي ( کمپلکس) وکتور فضا جوړوي،، د کوم سره چې جمعه او سکالار ضرب په ورته نږدې ډول تعریف دي:

$$(p+q)(x) = p(x) + q(x), \quad (\lambda p)(x) = \lambda p(x)\,.$$

د وکتورفضا خویونه ساده تصدیق کیدلی شي.

په پام کې لرو چې پولینوم د $n$ درجې سره، دا په دې معنا چې د $a_n \neq 0$ سره وکتورفضا نه جوړوی. د جمعې جوړول کیدی شي د درجې کموالی ته لاربنود کړي. د بیلګې په توګه دی:

$$(2x - x^2) + (3 + x^2) = 3 + 2x\,.$$

پای

حقیقي پرلپسي $(a_n)$ د $n \in \mathbb{N}$ سره یوه حقیقي وکتورفضا د عملیې سره جوړوي

$$(a_n) + (b_n) = (a_n + b_n), \quad \lambda(a_n) = (\lambda a_n)\,.$$

که سربیره پردې و غوښتل شي، چې ایا د وکتور سترکچر یا جوړښت خرابیدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلګې په توګه يوغږيزې پرلپسې وکتور فضا نه جوړوی. د مونوتون پرلپسيو جمعه اړيين نه ده يوغږيز وی، لکه دا لاندې بېلګه ښايي:

$$(4n) + (-n^2)$$

برعکس به بندوالی يا محدوديت يو منل شوی خوی وی..

پای

## د n - ګوني وکتورفضا

د $K$ تن لپاره $n$ -ګوني يا $n$-وکتورونو

$$a = \begin{pmatrix} a_1 \\ \vdots \\ a_n \end{pmatrix}, \quad a_i \in K$$

فضا دا $K$ وکتورفضا $K^n$ د کمپوننت ډوله تعريف شوي جمعي او سکالار ضرب سره، دا په دې معنا چې

$$\begin{pmatrix} a_1 \\ \vdots \\ a_n \end{pmatrix} + \begin{pmatrix} b_1 \\ \vdots \\ b_n \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} a_1 + b_1 \\ \vdots \\ a_n + b_n \end{pmatrix}$$

او

$$\lambda \cdot \begin{pmatrix} a_1 \\ \vdots \\ a_n \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} \lambda \cdot a_1 \\ \vdots \\ \lambda \cdot a_n \end{pmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو $a_i, b_i, \lambda \in K$ لپاره .

په زياتو حالاتو کې ساده دی چې $n$ ګونی يا $n$ توپل د ليکې وکتور په څېر

$$a = (a_1, \ldots, a_n)^t$$

همداسې

$$a^t = (a_1, \ldots, a_n)$$

وليکل شي. د ترانسپوزيشن سيومبول ``$t$,, سره د ستاندارد قرارداد څخه د متو وکتور په حيث توپيريږي.

پای

## لاندې فضا يا برخه فضا sub space

د يوه $K$ -وکتورفضا $V$ پيرخه ډېرى $U$، چې د په $V$ کې تعريف شوې جمعې او سکالار ضرب سره پخپله وکتورفضا جوړوی، د $V$ لاندې فضا يا برخه فضا بلل کيږي.

برخه فضا $U$ زيات وخت د $V$ توکو شرايطو سره تعريفيږی:

$$U = \{v \in V : A(v)\},$$

د کوم سره چې $A$ يوه په نخښنه کوی، چې د ټولو $v \in V$ لپاره بايد پوره وی.

د دې لپاره چې و ازمايو چې ايا $U$ د $V$ لاندې فضا ده، کفايت کوي چې وښايو چې $U$ نسبت د جمعې او سکالار ضرب سره تړلې ده:

$$u, v \in U \implies u + v \in U$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\lambda \in K, u \in U \implies \lambda \cdot u \in U .$$

$$u, v \in U \implies u + v \in U$$

$$\lambda \in K, u \in U \implies \lambda \cdot u \in U .$$

ليکونکي اپپ، کيمرلې

برخفضاوې زيات وخت د ورزياتو(برعلاوه؟) ځانګړ شوو خويونو له لارې منځ ته راځي. که د حقيقي توابعو $f : \mathbb{R} \to \mathbb{R} ,$ وکتورفضا په پام کې ونيسو، نو د بېلګې په توګه جوړه توابع $f(x) = f(-x)$ د ټولو $x \in \mathbb{R}$ لپاره يوه برخفضا جوړوی. نورې بيلګې همداسې معکوسې بېلګې په لاندې جدول کې ورکړې شوي دی.

| لاندې فضا | خويونه |
|---|---|
| هو | ناجوړه |
| ja هو | بند يا مخدود |
| نه | يوغږيز |
| هو | نابرېکيدونکي |
| نه | مثبت |
| هو | ګربنيز |

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوه $K$ -وکتورفضا د هر وکتور $d \neq 0$ لپاره د صفر څخه تيرېدونکي کربښه $v = \lambda d, \quad \lambda \in K$ يوه لاندې – يا برخفضا جوړوي.

په هر حالت يوه کربښه چې له صفر 0 نه تيريږي، لاندې يا برخفضا نه ده. د بېلګې په توګه

$$g : x = \begin{pmatrix} 1 \\ 0 \end{pmatrix} + \mu \begin{pmatrix} 0 \\ 1 \end{pmatrix}, \quad \mu \in \mathbb{R},$$

$(1,0)^t$ په کربښه

پرته ده، مګر $(2,0)^t$ نه.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## ګربنيز کمبينيشن Linearkombination

په يوه $K$ - وکتورفضا $V$ وکتورونو $v_1, v_2, \ldots, v_m$ لپاره سړی

$$\lambda_1 \cdot v_1 + \lambda_2 \cdot v_2 + \cdots + \lambda_m \cdot v_m = \sum_{i=1}^{m} \lambda_i \cdot v_i$$

د سکالارو $\lambda_i \in K$ سره د وکتورونو $v_i$ ګربنيز کمبينيشن بولي يا نوموي.

په ټوليزه توګه د $W \subset V$ لپاره د $W$ څخه کربنيز کمبينېشن لاندې ، د $W$ څخه د ناپاى ډېرو وکتورونو يو کربنيز کمبينېشن پوهيږو.

ليکونکي: اپپ، کيمرلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتور $v = (1,2,3)^t$ د وکتورونو $v_1 = (3,4,5)^t,\ v_2 = (1,1,1)^t,$ یو کرښیز کمبینېشن دی، ځکه چې $v = v_1 - 2v_2$ .

د دې برعکس $v = (1,0)^t$ د وکتورونو $v_1 = (0,1)^t,\ v_2 = (0,2)^t,$ کرښیز کمبینېشن نه دی.ځکه چې د $v_1$ او $v_2$ کرښیز پولینوم بڼه $(0,*)^t$ لری..

بالاخره کېدی شي $v = (0,0,0,0)^t$ په مختلفو ډولونو د وکتورونو

$$v_1 = (1,1,0,0)^t,\ v_2 = (0,2,2,0)^t,\ v_3 = (0,0,3,3)^t,\ v_4 = (4,0,0,4)^t$$

کرښیز کمبینیشن په څیر انځور شي:

$$v = \lambda(12v_1 - 6v_2 + 4v_3 - 3v_4)$$

د $\lambda \in \mathbb{R}$ سره.

لیکونکي: اپپ، هیولیګ

## کرښیزه هیولې یا سپاین یا سمڅ Lineare Hülle( span)

یادونه: د په یوه فضا کې د خوندې شیالنو او د باندې په منځ کې یو دیوال جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $K$ - وکتورفضا $V$ د وکتورونو $v_1, \dots, v_n$ ټولو ګرښيزو کمبينېشنونو ډېرۍ د وکتورونو $v_i$ کرښيزه سپاين يا هيولې(يو څه يا کوټی يا ...و چې په فضا کې يو ځا رابندوي (ژباړی)) بلل کيږي او داسې يې په نخښه کوو:

$$\operatorname{span}(v_1, \dots, v_n) = \{\sum_{i=0}^{n} \lambda_i \cdot v_i : \lambda_i \in K\}.$$

په ورته توګه سرۍ د $\operatorname{span}(U)$ وکتورونو د يوې ډېرۍ $U$ لپاره د $U$ د ټولو کرښيزوکمبينېشنونو ډېرۍ تعريفوی..

$\operatorname{span}(U)$ د هرې برخډېرۍ $U \in V$ لپاره د $V$ يو برخفضا ده.

ليکونکي: اپ، کيمرلې

که په $\mathbb{R}^3$ کې دوه مختلفې د سرچينې کرښې $g_1$ او $g_2$ په پام کې ونيسو، د بېلګې په توګه

$$g_1 : x = \lambda_1(1,0,0)^t,\ g_2 : x = \lambda_2(0,1,0)^t, \quad \lambda_i \in \mathbb{R},$$

دا هريو د لوريزو وکتورونو کرښيزه سپاين يا ګرښيزه هيولې دي، دلته

$$v_1 = (1,0,0)^t,\ v_2 = (0,1,0)^t\,.$$

نو د وکتورونو $v_1$ او $v_2$ کرښيزه هيولې يا سپاين $E = \operatorname{span}(v_1, v_2)$ يوه سطحه ده، چې کرښې $g_1$ او $g_2$ خوندي لري، پس دلته

$$E : x = \lambda_1(1,0,0)^t + \lambda_2(0,1,0)^t, \quad \lambda_i \in \mathbb{R}\ ,$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې

$$E = \{x : x_3 = 0\}$$

لیکونکي اپ، هیولیک

## ننوتی – یا محدب کمبینیشن Konvexkombination

په یوه حقیقي وکتورفضا $V$ کې یو کربنیز کمبینیشن

$$\lambda_1 v_1 + \lambda_2 v_2 + \cdots + \lambda_m v_m$$

د $\lambda_i \geq 0, \quad \sum_i \lambda_i = 1$ سره د وکتورونو $v_i \in V$ کنوکسکمبینیشن بلل کیږي.

لیکونکي اپ، هیولیک

## ننوتی یا محدبه هییولې یا سپاین( المانی وبینه :شپاین)Konvexe Hülle

د یوه حقیقي وکتورفضا $V$ د یوې برخډېرۍ $M$ محدبه هیولې د ټولو محدب کمبېشنونو

$$\lambda_1 v_1 + \lambda_2 v_2 + \cdots + \lambda_m v_m \qquad (\lambda_i \geq 0, \sum_i \lambda_i = 1)$$

ډېرۍ ده د $v_i \in M$ سره او د $\operatorname{conv}(M)$ سره لیکل کیږي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمککچيز يا هندسي $\text{conv}(M)$ خورا کوچنی ډېری ده، چې $M$ خوندی لري، کومه چې د هرو دوه توکو $u, v$ لپاره د هغو ترنکرښه

$$S = \{\lambda u + (1-\lambda)v : 0 \leq \lambda \leq 1\}$$

هم خوندی لري




ليکونکي اپ، هيوليک

حقيقي- ياريښتونی سکالار ضرب Reelles Skalarprodukt

په يوه حقيقي وکتور فضا $V$ باندې يو سکالارضرب يو تابع

$$\langle \cdot, \cdot \rangle : V \times V \to \mathbb{R}$$

ده، دلاندې خويونو سره:

مثبتوالی :

$v \neq 0$ د $\langle v, v \rangle > 0$ لپاره.

سيومتري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\langle u,v\rangle = \langle v,u\rangle$$

کرښیزوالی:

$$\langle \lambda u + \varrho v, w\rangle = \lambda\langle u,w\rangle + \varrho\langle v,w\rangle$$

دلته $u,v,w \in V$ او $\lambda,\varrho \in \mathbb{R}$ په خوښه وکتورونه هړداسي سکالار.

د سیومتري په بنسټ یو حقیقي سکالار ضرب د دویم دلیل په بنسټ هم کرښیز دی، یعنې په $V$ یو بي کرښیزه Bilinearform بڼه.

لیکونکي اپ، هیولیک، کرایخ

## سکالار ضرب Skalarprodukt

په یو کمپلکس وکتورفضا $V$ یو سکالار ضرب یو فنکشن

$$\langle\cdot,\cdot\rangle : V \times V \to \mathbb{C}$$

دی، د لاندې خویونو سره:

مثبتوالی:

$\langle v,v\rangle > 0$ د $v \neq 0$ لپاره.

مائل سیومتري:

$$\langle u,v\rangle = \overline{\langle v,u\rangle}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



كرښيزوالی:

$$\langle \lambda u + \varrho v, w\rangle = \lambda\langle u, w\rangle + \varrho\langle v, w\rangle$$

له دې سره $u, v, w \in V$ همداسې $\lambda, \varrho \in \mathbb{C}$ په خوښه وکتورونه همداسې سکالار دي.

## مایل سیومتریکSchiefsymmetrie :

كرښيزوالی:

$$\langle \lambda u + \varrho v, w\rangle = \lambda\langle u, w\rangle + \varrho\langle v, w\rangle$$

له دې سره $u, v, w \in V$ او $\lambda, \varrho \in \mathbb{C}$ په خوښه وكت.ورونه همداسې سكلار دي

د مائل سیومتري په اساس یو کمپلکس سکالارضرب نسبت و دویمي متحولې ته ګرښيز نه دی:

$$\langle u, \lambda v + \varrho w\rangle = \overline{\lambda}\langle u, v\rangle + \overline{\varrho}\langle u, w\rangle\,.$$

فقط د حقیقي سکالار لپاره کمپلکس کونجوګېشن بې مفهومه دی.

ليکونکي اپ، هیولیک، کرایخ

دا ترې لاس ته راغلې اسیومتري اړیین ده، چې د کمپلکس سکالارضرب مثبتوالی تضمینوي. د بېلګې په توګه دی:

$$\langle \mathrm{i}v, \mathrm{i}v\rangle \neq \mathrm{i}^2\langle v, v\rangle = -\langle v, v\rangle < 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $v \neq 0$ لپاره.

له دی زیات صدق کوي:

$$\langle \mathrm{i}v, \mathrm{i}v \rangle = (\mathrm{i}\bar{\mathrm{i}})\langle v, v \rangle = \langle v, v \rangle > 0 .$$

مثبتوالی اړیین دو چی له $|v| = \sqrt{\langle v, v \rangle}$ لارې ئو نورم تعریف کړاي شو.

لیکونکي هیولیک، هیورنر

د وکتورونو $x, y \in \mathbb{R}^2$ لپاره یوه دحقیقي سکالار ضربونو د ممکنه تعریفونو لړی تر څېړنې نیسو. په لاندې جدول ورکړ شوي، چې کوم خویونه پوره دي.

| خویونه | سکالار ځل |
|---|---|
| ټول | $10x_1y_1 + x_2y_2$ |
| کربنیزوالی | $x_1y_2$ |
| مثبتوالی، سیومتري | $\lvert x_1y_1 \rvert + \lvert x_2y_2 \rvert$ |
| سیومتري | $x_1x_2 + y_1y_2$ |

فقط لومړی تعریف ټول غوښتوني شرايط پوره کوي. په کملکس وکتورفضا $\mathbb{C}^2$ کې په هر ډول دا حالت نه دی، هم مثبتوالی او هم مائل سیومتري پوره نه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\langle(\mathrm{i},0),(\mathrm{i},0)\rangle = \qquad 10\mathrm{i}^2 = -10 < 0$$

$$\langle(\mathrm{i},0),(1,0)\rangle = 10\mathrm{i} \neq \overline{\langle(1,0),(\mathrm{i},0)\rangle} = -10\mathrm{i}$$

په داسې حالت کې چې د دويم Arguments اجزا وې يا کمپوننتونه کمپلمس کنجوګيرت کړي، پرابلک له منځه تلاي شي. تعريف

$$\langle x,y\rangle = 10x_1\bar{y}_1 + x_2\bar{y}_2$$

په کمپلکس حالت غزونه راکوي.

ليکونکي: هيوليګ، هيورنر

## د کوشي-شوارڅ – نامساوات( نابرابرون)

Cauchy-Schwarz-Ungleichung

سکالار ضرب کېدی شي د اسوڅياتيو قانون له مخې تخمين شي:

$$|\langle u,v\rangle| \leq |u||v|, \quad |w| = \sqrt{\langle w,w\rangle}\,.$$

مساوات ټيک هلته صدق کوي، که صدق ولري $u \parallel v$ .

که $v = \lambda u$ وي، لکه څنګه چې غوښتل کيږي مساوات صدق کوي.

د $u$ همداسې د $v$ ضرب د يوه سکالار سره نامساوات تغير نه خوري. کېدی شي ونيسو(فرض کړو) چې صدق کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$|u|^2 = |v|^2 = 1\,.$$

که د سکالار ضرب سره ( دليل حقيقي حالت په بر کې نيسي) دي

$$\langle u, v\rangle = r\exp(\mathrm{i}\varphi)\,, \quad r > 0\,,$$

د $\lambda = \exp(\mathrm{i}\varphi)$ سره د ناغبرګو( ناموازي) وکتورونو لپاره لاس ته راځي

$$\begin{aligned} 0 &< \langle u - \lambda v, u - \lambda v\rangle \\ &= 1 + \lambda\bar{\lambda} - \lambda r\overline{\exp(\mathrm{i}\varphi)} - \bar{\lambda} r\exp(\mathrm{i}\varphi) \\ &= 1 + 1 - r - r\,. \end{aligned}$$

له دې سرره $r = |\langle u, v\rangle| < 1$ باور لري، ده په دې معنا چې غوښتنه مو.

## نورم Normر ډوليزوال

په يوه حقيقي يا کمپلکس وکتورفضا $V$ نورم يا تابع $\|\cdot\| : V \to \mathbb{R}$ ده

د لاندې خويونو سره:

مثبتوالی:

$\|v\| > 0$ د $v \neq 0$ لپاره.

هوموګينيوالی يا برابيرډوليزوالی Homogenität :

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\|\lambda v\| = |\lambda|\|v\|$$

درېګوډې ( مثلث-) نامساوات:

$$\|u+v\| \leq \|u\| + \|v\|$$

د لته $u, v$ په خوښه وکتورونه دي او $\lambda$ يو په خوښه سکالار.

دد نورم $d(u,v) = \|u-v\|$ په مرسته کېدی شي د دوه وکتورونو ترمنځ واټن تعریف شي.

د سکالار ضرب نورم Skalarprodukt - Norm

په یوه حقیقي یا کمپلکس وکتورفضا $V$ د یوه سکالار ضرب سره ، نورم له

$$|v| = \sqrt{\langle v, v\rangle}, \quad v \in V$$

سره په یوه معنا دی.

مثبتوالی او هوموګینیتي (ورته والی) تړلې د سکالارضرب د ورته خویونو څخه لاس ته راځي. د مثلث مساوات له

$$|u+v|^2 = \langle u+v, u+v\rangle$$

$$= \langle u,u\rangle + \underbrace{\langle u,v\rangle + \overline{\langle u,v\rangle}}_{\in\mathbb{R}} + \langle v,v\rangle$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\leq |u|^2 + 2|\langle u,v\rangle| + |v|^2$$

$$\overset{\text{Cauchy-Schwarz}}{\leq} |u|^2 + 2|u||v| + |v|^2$$

$$= (|u| + |v|)^2$$

ثخه د ریښې نیونې له لارې لاس ته راځي.

لیکونکي: هیولیګ، هیورنر

## ماکسیموم - نورمMaximum-Norm

د وکتورونو فضاو $\mathbb{R}^n$ او $\mathbb{C}^n$ لپاره

$$||z||_\infty = \max_i |z_i|$$

ماسکیموم – نورم په نخښنه کوي.

دریګوډي نامساوات پوره دي، ځکه چې د $z = x + y$ لپاره باور لري

$$\max_i |z_i| = \max_i |x_i + y_i| \leq \max_i (|x_i| + |y_i|) \leq \max_i |x_i| + \max_i |y_i| \, .$$

ماکسیموم-نورم کېدی شي د وزنونو $w_i \in \mathbb{R}_+$ د پیل کولو یا رامنځ ته کولو سره تولیز شي:

$$||z||_{\infty,w} = \max_i (w_i |z_i|) \, .$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حقيقي- يا ريل وكتورونو سكالار ضربSkalarprodukt reeller Vektoren

د وكتورونو $v = (v_1, \ldots, v_n)^{\mathsf{t}}, w = (w_1, \ldots, w_n)^{\mathsf{t}} \in \mathbb{R}^n$ لپاره كانونيكي ضرب د

$$v^{\mathsf{t}}w = \sum_{i=1}^{n} v_i w_i = v_1 w_1 + \cdots + v_n w_n$$


سره تعريف دی د وركډشوي assoziierten نورم

$$|v| = \sqrt{v_1^2 + \cdots + v_n^2}\,.$$

سره.

$$v^{\mathsf{t}}w = |v||w| \cos \alpha$$

هندسي كېدی شي دا نورم د له لارې تعريف شي، د $v$ او $w$ ترمنځ كوچنی زاويه يا كونج $\alpha$ په نخښه كوي، چې د $u$ او $v$ څخه غزيدلې سطحې كې اندازه كيږي.




د سكالار ضرب خويونه ساده ازمايل كيږي.

د هدسي تعريف ورته والی د كوساين جلې سره تصديقيږي(لومړی د $n = 2$ لپاره ).

دې پسې د $v = (v_1, v_2)^{\mathsf{t}}$ او $w = (w_1, w_2)^{\mathsf{t}}$ سره باور لري، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$|v-w|^2 = |v|^2 + |w|^2 - 2|v||w|\cos\alpha\ .$$

که ځاي په ځاي کړو، نو ترې لاس ته راځي

$$(v_1-w_1)^2 + (v_2-w_2)^2 = v_1^2 + v_2^2 + w_1^2 + w_2^2 - 2|v||w|\cos\alpha$$

او د بنه بدلو سره ښونه يا ثبوت.

د $n \geq 2$ لپاره $v$ او $w$ په $\mathbb{R}^n$ کې يوه سطحه اواره(هواروي) وي يا غزوي. ورته شمېرنه په دې سطحه کې ښايي، چې د په خوښه ډيمنزيونون ( ابعادو يا پراخېدونو) $n \geq 2$ لپاره تيک دی.

د کمپلکس وکتورونو سکالار ضرب Skalarprodukt komplexer Vektoren

د وکتورونو $x=(x_1,\ldots,x_n)^t, y=(y_1,\ldots,y_n)^t \in \mathbb{C}^n$ لپاره کانونيکي

سکالار ضرب د $y^*x = \sum_{j=1}^{n} x_j\bar{y}_j$ له خوا تعريف دی د شسوخيري نورمونو

$$|z| = \sqrt{|z_1|^2 + \cdots + |z_n|^2}\,.$$

سره.

دا سوپرسکريپت له دې سره د يوه وکتور ترانسپوزيشن او کمپلکس کنجوکېشن په ګوته کوي.

دا تعريف حقيقي حالت خوندي لري، چې په هغو کې کمپلکس کنجوګيري حالت پوره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$x = \begin{pmatrix} 1+2\mathrm{i} \\ -2-\mathrm{i} \end{pmatrix}, \quad y = \begin{pmatrix} 2 \\ 2\mathrm{i} \end{pmatrix}$$

که له $\mathbb{C}^2$ څخه د وکتورونو
سکالارضرب جوړوو، نو لاس ته راځي:

$$\langle x, y\rangle = (1+2\mathrm{i})\cdot 2 + (-2-\mathrm{i})\cdot \overline{2\mathrm{i}} = 2+4\mathrm{i}+4\mathrm{i}+2\mathrm{i}^2 = 2+8\mathrm{i}-2 = 8\mathrm{i}\,.$$

پس د دوه کمپلکس وکتورونو سکالار ضرب اړیین نه دی چې حقیقي وي.

د اسوڅییري نورم سره د دویم وکتور کنجوګیري کونه غوره رول لري. بې له کنجوګیري کونې څخه به په ضرب کې لومړي وکتور لاندې نورم لرودی

$$\sqrt{(1+2\mathrm{i})^2 + (-2-\mathrm{i})^2} = \sqrt{1+4\mathrm{i}-4+4+4\mathrm{i}-1} = \sqrt{8\mathrm{i}} \notin \mathbb{R}\,,$$

او د دویم وکتور لپاره به په همدې ډول نورم نامثبت وی:

$$\sqrt{2^2+(2\mathrm{i})^2} = \sqrt{4-4} = 0 \not> 0\,.$$

د دوه وکتورونو ترمنځ کونج Winkel zwischen Vektoren

$$\cos\sphericalangle(u,v) = \frac{\langle u, v\rangle}{|u||v|}$$


د یوه حقیقي سکالار ضرب لپاره د لخوا

په $[0,\pi]$ کې د $u$ او $v$ ترمنځ یوکونج تعریفوي. په ځانګړې توګه $u$ او $v$ اورتوګونال، $u \perp v$ ، بولو که $\langle u, v\rangle = 0$ ولرو.

د کونج تعریف په $\mathbb{R}^2$ کې د وکتورونو لپاره د کوساین له مخې رابولي:

(c) ketabton.com: The Digital Library






په یوه درېګوډي یا مثلث کې د اړخونو $|u|, |v|, |w|$ اوږدوالي لپاره اړیکې باور لري:

$$|w|^2 = |u|^2 + |v|^2 - 2|u||v| \cos \sphericalangle(u, v) \, .$$

له بلې خوا د سکالار ضرب له تعریف څخه

$$|w|^2 = |v - u|^2 = |v|^2 + |u|^2 - 2\langle u, v\rangle \, ,$$

د کونج تعریف د پرتلې له لارې لاس ته راځي.

د په خوښه حقیقي سکالارضرب لپاره د کوشي-شورڅ-مساوات په بنسټ لرو:

$$\frac{\langle u, v\rangle}{|u||v|} \in [-1, 1] \, .$$

وښ کېدی شي په $[0, \pi]$ کې د یوه کونج د کوساین سره برابر کېښوول شي یا ځای په ځاي شي.

## د پیتاګوراس(فیثاغورث) جمله Satz des Pythagoras

د یوه سکالارضرب-نورم د اورتوګونال یا عکود وکتورونو $u$ او $v$ لپاره

$$|u + v|^2 = |u|^2 + |v|^2 \, .$$

باور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باور لري

$$|u+v|^2 = \langle u+v, u+v\rangle = \langle u,u\rangle + \underbrace{\langle u,v\rangle}_{=0,\ \text{da}\ u\perp v} + \underbrace{\langle v,u\rangle}_{=0,\ \text{da}\ v\perp u} + \langle v,v\rangle =$$

$$= |u|^2 + |v|^2 .$$

دا حمله د پيتاګوراس جملې تر نامه شهرت لري(569-475 v. Chr)، سره له دې چې دا له دې 1000 کاله د مخه بابليانو پېژندله.

امکان لري، چې پيتاګوراس به لومړنی وو، چې دا جمله يې ثبوت کړې.

## د پيتاګوراس درېګونيPythagoräisches Tripel

د پيتاګوراس درېګونو سره درې طبيعي اعداد $l, m, n$ بلل کيږي، د $l^2 + m^2 = n^2$ , سره، د بېلګې په توګه $(3,4,5)$ .

يو مثلث چې د اړخونو اوږدوالي نسبت يې د پيتاګوراس درېګونې پوره کوي، د پيتاګوراس جمله پوره کوي او له دې امله دا ولارګوډيز يا ولاړکونجيز او که غواړی قايم االزاويه دي.

مصريانو ممکن دا د ولاړګوډ د لاس ته راوړلو لپاره کارولی وي: دوي د يوې رسی يا پړي څخه کار رخسته، چې رابند او ۱۲ ګنډې د برابر يون (واحد)اوږدوالي سره درلودې. که دې رسی يو درېګوډی داسې جوړ شي، چې اخونه يې درې، څلور، پنځه يوونه يا واحده اوږده وي، نو د لنډو اړخونو ترمنځ پروت کوج ولاړ يا عمود دی.

هر ناجوړه يا طاق عدد $l \geq 3$ کېدی شي د عددونو $m = (l^2-1)/2$ او $n = (l^2+1)/2$ سره د يو پيتاګوراس درېګوني ته پوره يا مکمل شي، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$l^2 + \frac{l^4 - 2l^2 + 1}{4} = \frac{l^4 + 2l^2 + 1}{4} = \left(\frac{l^2 + 1}{2}\right)^2 .$$

د دې درېګوني له $2$ سره ضرب له لارې يو درېګونی لاس ته راځي، د هر ټول عدد $l \geq 6$ لپاره.

دا ورکړ شوی جوړخت اصول د يوې طريقې ځانګړی حالت دی، کزمه چې د ؛بينوم د دريم فرمول خڅه لاس ته راحي، [که چې له

$$c^2 - b^2 = (c - b)(c + b) = a^2$$

لاس ته راځي، که $a^2$ په دوه مختلفو ضريبونو تجزيه کېدی شي، چې يو يې جوړه $(= 2b)$
کمښت يا تفريق ولري. د ناجوړه يا طاق $a = l$ لپاره دا ټوټه کونه
$a^2 = a^2 \cdot 1$ پوره ده. لاس ته راوړو:

$$b = \frac{a^2 - 1}{2}\ , \quad c = \frac{a^2 + 1}{2}$$

او له دې سره دا پورته ځانګړی حالت.

کربنيز نابلواکوالی يا خپلواکوالی يا نا تابعيت Lineare Unabhängigkeit

وکتورونه $v_1, \ldots, v_m$ کربنيز بلواک بللکيږي، که سکالار $\alpha_1, \ldots, \alpha_m$ شتون ولري د
$\alpha_1 v_1 + \cdots + \alpha_m v_m = 0$

او لږ تر لږه يوه $\alpha_i \neq 0$ سره. په بل حالت کې کربنيز خپلواک بلل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولېږه توګه د وکتورونو يوه ډېری $M$ کرښيز نا بلوک يا خپواکه بلل کيږي، که د $M$ هره پاي برخډېرۍ د کرښيز نا بلوک يا خپلواکه وکتورونو څخه جوړه وي. په بل حالت کې $M$ کرښيزه بلواکه پلل کيږي.

په پام کې دې وې، چې د کرښيز الجبر په موخه په حقيقت کې ناپاي ډېريو ته اجازه ورکړ شوې، مګر فقط ناپاي کرښيوږو کمپينيشنونو ته. د بېلګې په توګه د پرلپسيو وکتورفضا ډېريو کې

$$e=(1,1,\ldots)^t,\ e_1=(1,0,0,\ldots)^t,\ e_2=(0,1,0,\ldots)^t,\ \ldots$$

کرښيز خپلواک دی، سره له دې چې

$$e=\sum_{n\in\mathbb{N}} e_n\ .$$

دي.

د ثابتو پرلپسيو يا ترادفونو د کانونيکي يوون- يا واحدوکتورونو سره پاي انځورونه نه شته.

په $\mathbb{R}^2$ کې دوه وکتورونه تيک هلته کرښيز خپلواک دي، که يو هم د بل ډېر واره نه وي، د بيلګې په توګه ږکتورونه $(1,0)^t$ او $(1,1)^t$ کرښيز خپلواک دي، ځکه چې ايښوونه

$$\alpha(1,0)^t+\quad\beta(1,1)^t=(0,0)^t$$

راکوي

$$\beta= \qquad\qquad \alpha=0\ .$$

همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برعکس وکتورونه $(0,0)^t$ او $(2,3)^t$ کرښيز بلواک دي، که

$$0(2,3)^t = (0,0)^t$$

همداسې:

$$1(0,0)^t + 0(2,3)^t = (0,0)^t;$$

پس د صفر وکتور يو ،،نه ترېويال،، يا ساده انځورونه شتون لري.

په $\mathbb{R}^2$ کې د رې وکتورونه $u, v, w$ تل کرښيزبلواک يا تابع دي، ځکه چې لاندې ځاي په ځاي کونه

$$\alpha u + \beta v + \gamma w = 0$$

کښته ټاکلي لاينيز هوموجين سيستم ته مو لاربښودوي

$$\alpha u_1 + \beta v_1 + \gamma w_1 = 0$$

$$\alpha u_2 + \beta v_2 + \gamma w_2 = 0$$

د $\alpha, \beta, \gamma$ لپاره، چې تل يو ناساده حل لري

لکه په دوه بعدي همداسې په $\mathbb{R}^3$ کې دوه بعدي وکتورونه کرښيز بلواک دي، که دا غبرګ( موازي) وي، دا په دې معنا چې که يو وکتور د بل وکتور څو ځله وي.

درې وکتورونه کرښيز بلواک دي، که دوه وکتورونه غبرګ يا موازي وي يا که يو وکتور له دې نورو دوه وکتورونو غزېدلې سطحه کې پروت وي. د بېلګې په توګه د لاندې لپاره باور لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$u = (1, 2, -3)^t,\ v = (4, -6, 2)^t,\ w = (-9, 3, 6)^t$$

لپاره باور لري

$$6u + 3v + 2w = (0, 0, 0)^t$$

، پس وکتورونه کرښيز بلواک دي.

د تعريف سره سم د کرښيز بلواکوالي لپاره ازمايښت ورته دی يوه هوموجېن کرښيز مساواتسيستم سره

$$\lambda_1 \begin{pmatrix} x_1 \\ y_1 \\ z_1 \end{pmatrix} + \cdots + \lambda_n \begin{pmatrix} x_n \\ y_n \\ z_n \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 0 \\ 0 \\ 0 \end{pmatrix}$$

د سکالار $\lambda_i$ لپاره. دا په ځانګړي توګه ښايي، چې څلور وکتورونه په $\mathbb{R}^3$ کې تل ګرښيز بلواک يا تابع دي.

## بنسټ Basis

د يوه وکتور فضا $V$ برخډېری $B$ د وکتور $V$ يو بنسټ بلل کيږی، که $B$ کرښيز خپلواکه وي او د $V$ يو توليدېدونکی يا جړوېدوکی سيستم وي، دا په دې معناچې که هر وکتور $v \in V$ يو يواځنی انځورونه د يوه پای کمبينېشن د $v = \sum_{i=1}^{m} \lambda_i b_i$ $b_i \in B$ سره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که $B$ پای $(|B| = n)$ وي ، نو هر وکتور کېدی شي د يوه وضعيه قېمت له لارې سره نسبت و بنسټ ته وليکي:

$$v \leftrightarrow v_B = (\lambda_1, \ldots, \lambda_n)^t .$$

## د وضعيه قيمت انځوروني

$$v = \sum_{i=1}^{n} \lambda_i b_i \leftrightarrow v_B = (\lambda_1, \ldots, \lambda_n)^t ,$$

سره ، دا په نامه کانونيکي ايزومورفيزم، سرې کړی شي يو پای بعدي $K$ -وکتورفضا $V$ د $n$–ګونی وکتور فضا $K^n$ سره په نخښه کړی شي يا وپېژندلی شي. په ځانګړې توګه کېدی شي چې د پای حقيقي او کمپلکس وکتوري فضا د د لوستلو سره په پروتو تيوپ $\mathbb{R}^n$ او $\mathbb{C}^n$ ځان محدود يا رابند کړي.

لکه د بېلګې په توګه د پولينومونو وکتور فضا يدلکيږي، اړيين نه ده چې وکتورفضا دې پای بنسټ ولري. مګر د د کرښيز الجبر په ساحه کې پای کرښيز کمپېشنونه تر څېړنې لاندې نيول کيږي. د دې لاس ته رځي، چې پرلپسې

$$e_1 = (1, 0, 0, \ldots)^t,\ e_2 = (0, 1, 0, \ldots)^t, \ldots$$

د پرلپسيو د وکتورفضا لپاره بنسټ نه جوړوي. دا د ناپای کرښيز کمبينېشن مطالعه يا راوړنه ، لکه دا چې څنګه په فوريې لړيو کې رامنځ ته کيږي، په لاس لرو، خو يوه کونورکنځ يا پولې ته يوه تګ کليمه غواړي، يعني د فقط وکتورفضاجوړښت څخه زيات.

## بعد يا پراخيدونی Dimension

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو وکتورفضا $V$ یو پاي بنسټ $B = \{b_1, \ldots, b_n\}$ ولری، نو د بنسټ وکتورونو ګڼون یا تعداد یواځنی ټاکلی او د $V$ بعد یاپراخېدونی بلل کیږي:

$$n = \dim V \ .$$

د $V = \{0\}$ لپاره لیکو $\dim V = 0$ او $\dim V = \infty$ د یو ناپای بنسټ وکتورفضا لپاره.

د ټولیز بنسټ جملې له مخې هر وکتورفضا یو بسټ لری.

د دې لپاره چې وښایو، چې بعدونه یا پراخیدوني یواځني ټاکلی دي، بسیا کوی، چې لاندې وبینه وښایو:

که یوه وکتورفضا $n$-توکیزه بنسټ

$$b_1, \ldots, b_n \ ,$$

ولري، نو $n+1$ وکتورونه

$$v_1, \ldots, v_{n+1}$$

( او له دې سره د $n+1$ څخه زیات وکتورونه هم ) کرښیز بلواک دي.

که دوه بنسټونه د مختلفو ډېرو وکتورونو سره شته وي، نو د بنشټوکتورونه به کرښیز خپلواکوالی ته یو تضاد لاس ته راشي.

پورتنۍ غوښتنه یا ثبوت کیدی شي د $n$ پسې د ایندکشن له لارې و ښوول شي.

د ایندکشن پل لپاره ( اندکشن پیل $n = 1$ ساده دی) که د وکتورونو $v_i$ بنسټ انځورونه راواخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$v_i = \sum_{j=1}^{n} \gamma_{i,j} b_j, \quad i = 1, \ldots, n+1 .$$

.

باور لري:

$$\gamma_{i,1} = \cdots = \gamma_{i,n} = 0,$$

،

نو دی ، او کرښيزبلواکوالی همدا اوس و ښوول شو. نو کيدی شي د مناسب نمره کولو له لارې ونيسي، چې $\gamma_{n+1,n} \neq 0$ . له پورته مساوات څخه په راوتنې يا پيل سرې اوس ومتورونه تعريفوي، کوم چې د $n-1$ وکتورونو $b_1, \ldots, b_{n-1}$ څخه د کرښيز کمبينيشن په څير انځوريدلای شي:

$$v_i' = v_i - \frac{\gamma_{i,n}}{\gamma_{n+1,n}} v_{n+1}, \quad i = 1, \ldots, n .$$

دا چې د $b_n$ صريب يا ځلونی ورکيږي، ساده کتل کيږي. دا چې

$$\mathrm{Span}\{b_1, \ldots, b_{n-1}\}, \quad v_1', \ldots, v_n' \in V' =$$

کيې شي سرې د ايندکشن نيونې(فرضيی) وکاروي او نه ساده کرښيز کمبينيشن لاس ته راوړي

$$\lambda_1 v_1' + \cdots + \lambda_n v_n' = 0 .$$

د بنه بدلون پسي د کرښيز کمبينيشن لاس ته راځي، نو له دې سره غوښتنونی بلواکوالی يا تابعيت.

ليکونکي: اپپ، هيوليک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اورتوګونال یا ولاړ بنسټ Orthogonale Basis

یو بنسټ $B = \{u_1, \ldots, u_n\}$ اورتوګونال بلل کیږي، که وي:

$$\langle u_i, u_j \rangle = 0, \quad i \neq j\,.$$

که بنسټوکتورونه نورمي وي، دا په دې معنا چې $|u_i| = 1$ دي، نو د اورتوګونال سیستم یا اورتوګونال بنسټ څخه غږیږو.

یو وکتور $v$ نسبت و یوه اورتوکونال بنسټ $u_1, \ldots, u_n$ ته انځورونه

$$v = \sum_{j=1}^{n} c_j u_j\,, \quad c_j = \frac{\langle v, u_j \rangle}{|u_j|^2}\,.$$

لري.

د ضریبونو $c_j$ لپاره پاور لري

$$|c_1|^2 |u_1|^2 + \cdots + |c_n|^2 |u_n|^2 = |v|^2\,.$$

د یوه نورمي پنسټ لپاره ترمونه $|u_j|^2$ له منځه ځي. او له دې سره لاس ته راځي:

$$c_j = \langle v, u_j \rangle\,, \quad |c_1|^2 + \cdots + |c_n|^2 = |v|^2\,.$$

لیکونکي: اپپ، هیولیګ، کیمرلې

دا چې $u_1, \ldots, u_n$ یو بنسټ جوړوي، نو سکالا $c_1, \ldots, c_n$ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$v = \sum_{j=1}^{n} c_j u_j \ .$$

سره ښتون لري.

که د پورتني مساوات لپاره په خوښه سکالار ضرب د $u_k$ سره جوړ کړو او د بنسټ دد اورتوګوناليټي څخه کار واخستل شي، نو لاس ته راځي

$$\langle v, u_k \rangle = c_k \langle u_k , u_k \rangle$$

همداسې

$$c_k = \frac{\langle v , u_k \rangle}{\langle u_k , u_k \rangle} \ .$$

د ضريبونو لپاره کټمټوالی د پيتاګوراس د جملي ($n = 2$) ټوليزونه ده. دا تړلې د

$$|v|^2 = \langle c_1 u_1 + \cdots + c_n u_n , c_1 u_1 + \cdots + c_n u_n \rangle \, ,$$

ضربولو څخه لاس ته راځي، که دې ته پام وشي، چې مخلوط ترمونه

$$\langle c_j u_j , c_k u_k \rangle , \quad j \neq k$$

د بنسټ وکتورونو د اورتوګوناليټي له امله ورکيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليكونكي: اپپ، هيوليګ

نسبت و اورتوګونال بنسټ

$$u_1 = \begin{pmatrix} 1 \\ 3 \end{pmatrix}, \; u_2 = \begin{pmatrix} -6 \\ 2 \end{pmatrix}$$

ته $v = (8,4)^t$ دا لاندې انځورونه لري

$$v = \frac{\langle v, u_1 \rangle}{\langle u_1, u_1 \rangle} u_1 + \frac{\langle v, u_2 \rangle}{\langle u_2, u_2 \rangle} u_2 = \frac{8+12}{1+9} u_1 + \frac{-48+8}{36+4} u_2 = 2u_1 - u_2 \, .$$

د ضريبونو لپاره باور لري:

$$|2|^2 \left| \begin{pmatrix} 1 \\ 3 \end{pmatrix} \right|^2 + |-1|^2 \left| \begin{pmatrix} -6 \\ 2 \end{pmatrix} \right|^2 = 4 \cdot 10 + 1 \cdot 40 = \left| \begin{pmatrix} 8 \\ 4 \end{pmatrix} \right|^2 .$$

نسپت و اورتوګونال پنسټ

$$u_1 = \frac{1}{9} \begin{pmatrix} 1 \\ 4 \\ 8 \end{pmatrix}, \; u_2 = \frac{1}{9} \begin{pmatrix} 4 \\ 7 \\ -4 \end{pmatrix}, \; u_3 = \frac{1}{9} \begin{pmatrix} 8 \\ -4 \\ 1 \end{pmatrix}$$

ته $v = (-1,1,3)^t$ لاندې انځورونه لري:

$$v = \langle v, u_1 \rangle u_1 + \langle v, u_2 \rangle u_2 + \langle v, u_1 \rangle u_1 = 3u_1 - u_2 - u_3 \, .$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ضريبونو لپاره باور لري

$$|3|^2 + |-1|^2 + |-1|^2 = \left| \begin{pmatrix} -1 \\ 1 \\ 3 \end{pmatrix} \right|^2 .$$

ليکونکي: اپپ، هيوليک

## اورتوګونال پروجکشن يا - پرپوستون Orthogonale Projektion

په يوه برخفضا $U$ اورتوګونال پرپوستون

$$v \mapsto P_U(v) \in U$$

داورتوګوناليټي شرايط


$$\langle v - P_U(v), u \rangle = 0, \quad \forall u \in U$$

سره پيژندل شوی دی.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library






که $u_1, \ldots, u_j$ د $U$ یو اوتوګونال پنسټ وي، نو دی

$$P_U(v) = \sum_{k=1}^{j} \frac{\langle v, u_k \rangle}{\langle u_k, u_k \rangle} u_k \, .$$

لیکونکي: اپپ، هیولیګ

له $x_1 + x_2 + x_3 + x_4 = 0$ سره یوه هایپرسطحه $H \subset \mathbb{R}^4$ تعریف کیږي. د اوروتوګونال بنسټ لپاره کېدی شي لاندې وکتورونه وکارول شي:

$$u = \begin{pmatrix} 1 \\ 1 \\ -1 \\ -1 \end{pmatrix}, v = \begin{pmatrix} 1 \\ -1 \\ 1 \\ -1 \end{pmatrix}, w = \begin{pmatrix} 1 \\ -1 \\ -1 \\ 1 \end{pmatrix}$$

نو د وکتور $x = (1, 2, 3, 4)^t$ د اورتوګونال پروجکشن لپاره لاندې باور لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P_H x = \frac{x^t u}{|u|^2} u + \frac{x^t v}{|v|^2} v + \frac{x^t w}{|w|^2} w = \frac{-4}{4} u + \frac{-2}{4} v + \frac{0}{4} w$$

ليکونکي: هيوليک، کرايخ

## د گرام-شميت تکلار يا قانون Verfahren von Gram-Schmidt

د يوه بنسټ $b_1, \ldots, b_n$ څخه کېدی شي، لکه په لاندې توگه، يو اورتوگونال بسټ $u_1, \ldots, u_n$ جوړ شي. دا سړی د $j = 1, \ldots, n$ لپاره سوکځيسيو تعريفوي:

$$u_j = b_j - \sum_{k<j} \frac{\langle b_j, u_k \rangle}{\langle u_k, u_k \rangle} u_k,$$

د $j = 1, \ldots, n$ لپاره.

دا رکورزيو ساده کيږي، که بنسټوکتور له هر پل(قدم) ورسته نورمي شي:

$$u_j \leftarrow \frac{u_j}{|u_j|}.$$

په دې خالت دي: $\langle u_k, u_k \rangle = 1$

ليکونکي: اپپ، هيوليک

سړی ايندوکتيو( له يوه څخه توليز ته) ښايي، چې $u_1, \ldots, u_l$ د $\operatorname{span}(b_1, \ldots, b_l)$ لپاره يو اورتوکونال بنسټ جوړزي.

د $l = 1$ لپاره دا روښانه دی: $u_1 = b_1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایندکشن پل $(l \to l+1)$ لپاره په پام کې نیسو، جې د $j \le l$ لپاره لرو

$$\langle u_{l+1}, u_j \rangle = \langle b_{l+1}, u_j \rangle - \sum_{k \le l} \frac{\langle b_{l+1}, u_k \rangle}{\langle u_k, u_k \rangle} \underbrace{\langle u_k, u_j \rangle}_{\delta_{k,j} |u_k|^2} = 0 \,.$$

له دې امله $u_1, \ldots, u_{l+1}$ اورتوګونال دي. بالاخره

$$b_{l+1} - u_{l+1} \in \mathrm{span}(u_1, \ldots, u_l) = \mathrm{span}(b_1, \ldots, b_l)\,,$$

دي، له کوم سره چې و ښوول شو، دواړه فضا همغه لاندې فضا غېږي یا خوروي.

لیکونکي: هیولیک، کرایخ

د دې لپاره چې نسبت سکالار ضرب یا څل

$$\langle f, g \rangle = \int_{-1}^{1} f(x) g(x)\, dx$$

ته د پولینومونو $p_0, p_1, \ldots$ اورتوګونال پرلپسې(ترادف) جوړه کړو ٫کیدی شنلار

سرهي سړی د مونوم $q_j(x) = x^j$ څخه مخ ته لاړشي. د ګرامشمیت د تلنلار سره لاس ته راوړي.

$$p_0 = q_0$$

$$p_1 = q_1 - \frac{\int_{-1}^{1} x \cdot 1\, dx}{\int_{-1}^{1} 1 \cdot 1\, dx} \cdot 1 = x - 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$p_2 = q_2 - \frac{\int_{-1}^{1} x^2 \cdot x\, dx}{\int_{-1}^{1} x \cdot x\, dx} \cdot x - \frac{\int_{-1}^{1} x^2 \cdot 1\, dx}{\int_{-1}^{1} 1 \cdot 1\, dx} \cdot 1 = x^2 - 0 \cdot x - \frac{1}{3}.$$

تولیزه بڼه

$$p_{n+1} = q_{n+1} - \sum_{j=0}^{n} \frac{\langle q_{n+1}, p_j}{p_j, p_j} \cdot p_j$$

کیدی شي کره نازکه یا نرمه شي، که سرې د $q_{n+1}(x) = x^{n+1}$ په ځای پولینوم $\tilde{q}_{n+1}(x) = x \cdot p_n(x)$ وکاروي. د

$$\text{span}\{p_1, \ldots, p_n, q_{n+1}\} = \text{span}\{p_1, \ldots, p_n, \tilde{q}_{n+1}\}$$

له امله دا قانوني دی. په دې حالت کې دې فقط زیاتوونی یا د جمعي غړی د $j = n - 1$ سره د صفر سره نا برابره وي.

د سیمتري په بنسټ د $j = n$ لپاره $\langle \tilde{q}_{n+1}, q_n \rangle = \int_{-1}^{1} x\, q_n(x)\, q_n(x)\, dx$

ورکيږي.د $j < n - 1$ لپاره $[x\, p_j(x)]$ د $p_k(x), k < n$ یوکرښیز کمبینیشن دی.

د $\langle p_n, p_n \rangle = 0$ له امله له دې سره

$$\langle \tilde{q}_{n+1}, p_j \rangle = \int_{-1}^{1} p_n(x)\, [x\, p_j(x)]\, dx$$

هم صفر دی.

په دې توګه لاس ته راوړل شوي پولینومونه د لجندر Legendre پولینومونه بلل کیږي. د یوه بل نومالي کوني سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$p_n(x) = \alpha_n x^n + \dots$$

د لاندې بڼې د دوه ترمونو ريکورزيون لرئ

$$p_{n+1}(x) = \frac{\alpha_{n+1}}{\alpha_n}(x - \beta_n)p_n(x) - \gamma_n p_{n-1}(x)$$

د $\beta_n = \frac{\langle xp_n, p_n \rangle}{\varrho_n}, \gamma_n = \frac{\alpha_{n+1}\alpha_{n-1}\varrho_n}{\alpha_n^2 \varrho_{n-1}}$ او $\varrho_n = \langle p_n, p_n \rangle$ سره

## کرښيزه څيرونه (فنکشن يا تابع)Lineare Abbildung

د $K$–وکتور فضا $V$ او $W$ ترمنځ فنکشن $L : V \longmapsto W$ ګرښيز بلل کيږی، که دا لاندې خوبونه ولري:

- مثبتوالی

$$L(u+v) = L(u) + L(v)$$

-هوموګيپينوالی:

$$L(\lambda v) = \lambda L(v)$$


له دې سره $u, v \in V$ او $\lambda \in K$ په خوښه وکتورونه همداسې سکالار دي.

په ځانګړې توګه $L(0_V) = 0_W$ او $L(-v) = -L(v)$ باور لري.

لکه په لاندې بيلګه کې به چې ښوول شي، يو څرخون کرښيز دی.


(c) ketabton.com: The Digital Library






لکه جمعه یا زیاتون $v = v_1 + v_2$ د دواړو وکتورونو $v_i$ سره یو مثلث یا درېګوډی جوړوي، چې د ده بڼه د څرخون سره بې تغیره پاتېږي، دا په دې معنا چې جمعه د مخه یا د څرخون سره جوړه شي. دا چې د ضریب $\lambda$ سره غزونه د څرخون سره بدلیږي، بسي تړلی لیدل کیږي.

په ورته توګه ښوول کیږي چې هندارونه هم کرښیزه ده.




په سطحه کې د ټکو یوه راکښنه کرښیزه نه ده.

نه زاتونوالی یا جمعه کیدنه او هم نه هوموجینیتي پوره دي. د

$$T:\ (x_1, x_2) \mapsto (x_1 + 1, x_2)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



او

$$v_1 = (1, 0),\ v_2 = (0, 1),\ \lambda = 2$$

لپاره د بيلګي به توګه باور لري

$$T(v_1 + v_2) = (2, 1) \neq (3, 1) = T(v_1) + T(v_2)$$

$$T(\lambda v) = (3, 0) \neq \qquad (4, 0) = \lambda T(v)\ .$$

ليکونکي: هيورليک، هيوررنر

يو څو بيلګې لاندې د حقيقي توابعو يا فنکشنونو جدول ښايي. دلته هرچيرته ورکړ شوي، چې د کرښيزوالي لپاره کوم شرطونه پوره دي.

| څيرونه يا فنکشن mapping | جمعي Additive | هوموجين homogen |
|---|---|---|
| $f \mapsto f'$ | X | X |
| $f \mapsto \lvert f \rvert$ | - | - |
| $f \mapsto \int_0^1 f$ | X | X |
| $f \mapsto \max f$ | - | - |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| $f \mapsto f(0)$ | X | X |
| $f \mapsto (\max f + \min f)/2$ | - | X |

د يوه فنکشن لپاره يوه بيلګه، زياتيز (مثبت) مګر هوموجېن نه دی، دادی، چې يو فنکشن $T$، چې يو کمپلکس ارزښتيزه تابع د هغې حقيقي برخه په ګوته کړي يا وښايی يا په هغې څېره شي. دلته باور لري: $T(\mathrm{i}f) \neq \mathrm{i}T(f)$

ليکونکي: هيورليګ، هيورنر

## د کرښيزو توابعو کمپوزيشن Komposition linearer Abbildungen

د دوه کرښيزو توابعو

$$S : U \to V\,, \qquad T : V \to W\,.$$

لپاره سړی کمپوزيشن تعريفوي( چې يوبل پسې تړاو يا ځنزيرونه هم بلل کيږي)

$$T \circ S : \quad U \to W$$

دا د لاندې لاری

$$(T \circ S)(u) = T(S(u))\,,$$

دا په دې معنا چې په $u \in U$ باندې فنکشن $S$ او په نتيجه باندې فنکشن $T$ کارول کيږي، فنکشن $T$ د فنکشن $S$ پسې کارول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوه کربنیزو فنکشنونو کمپوزیشن بېرته کربنیز دی.

## ماتریکس Matrix

په یوه تن یا جسم باندې د یوه $(m \times n)$ -ماتریکس تر نامه لاندې ( $m, n \in \mathbb{N}$ ) دا لاندې یوه ولاړکډیزه - یا قام الزاویه شکل پوهیږو:

$$A = (a_{ij}) = \begin{pmatrix} a_{11} & a_{12} & \cdots & a_{1n} \\ a_{21} & a_{22} & \cdots & a_{2n} \\ \vdots & \vdots & & \vdots \\ a_{m1} & a_{m2} & \cdots & a_{mn} \end{pmatrix} .$$

دلته دا د $A$ وکتورونه $(a_{i1}, a_{i2}, \ldots, a_{in})$ د $i$ –مې لیکې – او $(a_{1j}, a_{2j}, \ldots, a_{mj})^t$ د $j$ –مې متې( ستن یا پرته لیکه یا درځ...) وکتورونه بلل کیږي. په ځانګړي توګه $(n \times 1)$ - ماتریکس یو د لیکې - او $(1 \times n)$ - ماتریکس یو د متې یا ستني وکتور دي..

د ټولو $(n \times m)$ - ماتریکسونو ټولګه په $K^{n \times m}$ سره په نخښه کیږي، حقیقي ( کمپلکس) ماتریکسونه د $\mathbb{R}^{n \times m}$ ( $\mathbb{C}^{n \times m}$ ) سره په نخښه کیږي.

لاندې بیلګې د مختلف د ماتریکس بعدونه یا پراخېدونی ښايي.

$$\begin{pmatrix} 31 \\ 57 \\ 97 \end{pmatrix} , \quad (\mathrm{i}, 1 + \mathrm{i}, -1, 3\mathrm{i}) , \quad \begin{pmatrix} 0 & 1 & 0 \\ \mathrm{i} & 1 + \mathrm{i} & -\mathrm{i} \\ \sqrt{3} + 3\mathrm{i} & 7543 & 17 \end{pmatrix} , \quad \begin{pmatrix} 11 & 12 \\ 21 & 22 \\ 31 & 32 \end{pmatrix}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي دوه ماتريکسونه د ليکو – همداسې د مټووکتورونه دي، دا په دې معنا چې د کومو څخه چې د يوې ديمنزيون 1 دی. بنې لور ته يو څلوريځ يا مربع ماتريکس او يو يو ولاړګوډيز- يا مستطيلي ماتريکس دی.

ليکونکي: هيورليګ، هيورنر

د يوه کرښيز فنکشن ماتريکس Matrix einer linearen Abbildung

د دوه $K$ - وکتوروفضاو ترمنځ د بنسټونو $E = \{e_1, \dots, e_n\}$ او $F = \{f_1, \dots, f_m\}$ سره يو کرښيز فنکشن $L : V \longmapsto W$ دبنسټوکتورونو د $L(e_j) = a_{1,j} f_1 + \cdots + a_{m,j} f_m$ عکسونو يا ارزښت قيمتونو سره يواځني ټاکلي دي. دا لاندې دماتريکس انځورونه لری:

$$w_F = A v_E \longleftrightarrow w_i = \sum_{j=1}^{n} a_{i,j} v_j, \quad i = 1, \dots, m,$$

د کومو سره چې $v_j$ او $w_i$ د $v$ او $w = L(v)$ وضعييه قيمتونه (کواورديناتونه) به نخښه کيږي نسبت و بنسټ $E$ او $F$ ته. د ماتريکس $A$ په $j$-مه مټه کې د $L(e_j)$ کواورديناتونه يا وضعيه قېمتونه نسبت د $F$ بنسټ ته ځا په ځای دي.

دا چې $L$ د يوه بنسټ د عکسونو يا ارزښتونو سره يواځنی ټاکلي، تړلي د کرښيزوالي لپاره شرايطو څخه ورکول کيږي:

$$w = L(v) = L\left(\sum_j v_j e_j\right) = \sum_j v_j L(e_j) = \sum_j \sum_i v_j a_{i,j} f_i \,.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکو

$$w = \sum_i w_i f_i$$

او  د بنسټ وکتورونو $w_i$ کواوردينات پرتله کيږي، داسې هم سړی غوښتل شوي د ماتريکسونو انځورونه لاس ته روړي.


ليکونکي: هيوليګ، هيورن

په لاندې کې يو ځو  د سطحې کرښيزې تابع


$$L:\ \mathbb{R}^2 \rightarrow \mathbb{R}^2$$

انځور شوي دي، چې د يوون – يا واحد وکتورونو شکلونو يا بهتره ارزښتونو $e_i$ (غوړ) له لارې کره شوي دي.

Urbild




$$e_1 = \begin{pmatrix} 1 \\ 0 \end{pmatrix}, \quad e_2 = \begin{pmatrix} 0 \\ 1 \end{pmatrix}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



$$A = \begin{pmatrix} r & 0 \\ 0 & s \end{pmatrix} \qquad A = \begin{pmatrix} \cos\vartheta & -\sin\vartheta \\ \sin\vartheta & \cos\vartheta \end{pmatrix} \qquad A = \begin{pmatrix} 1 & \cot\vartheta \\ 0 & 1 \end{pmatrix}$$

سړی کړی شي چې د ماتریکس $A$ انځورونه نسبت کانونیکي بنسټونو $e_1, e_2$ ته ترلی معلومیږی یا لوستل کیږي. د ماتریکس متې هره یوه ځانله د وکتورونو $L(e_i)$ $i = 1,2$ ، کواوردیناتونه خوندی لري.

لیکونکي: هیولیګ، هیورن

یو کرښیز فنکشن یا تابع

$$x \mapsto p(x) = a_0 + a_1 x$$

په ټکو $x = 0, 1$ باندې د هغو ارزښتونو سره تاکلي. فنکشن

$$L : p \mapsto \begin{pmatrix} p(0) \\ p(1) \end{pmatrix}$$

کرښیز دی او کېدی شي نسبت د ضریب وکتورونو

$$\begin{pmatrix} a_0 \\ a_1 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 1 \\ 0 \end{pmatrix}, \begin{pmatrix} 0 \\ 1 \end{pmatrix}$$

له لارې تعریف شوي مونومبنسټ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ركربنيز الج

$$\begin{pmatrix} 1 & 0 \\ 1 & 1 \end{pmatrix}$$

له لارې انځور شي

كه بنسټ

$$p_1(x) = 1 - x, p_2(x) = x$$

استعمال شي، نو ماتريكس

$$\begin{pmatrix} p_1(0) & p_2(1) \\ p_1(0) & p_2(1) \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 1 & 0 \\ 0 & 1 \end{pmatrix}$$

ترې لاس ته راځي.

ټوليز د $\leq n$ درجې په $m$ تكيه ځايون $x = x_1, \ldots, x_m$ كې د يوه پولينوم

$$p(x) = a_0 + a_1 x + \cdots + a_n x^n$$

ارزښتونه يا قيمت ټاكنه د واندرموند –ماتريكس Vandermonde-Matrix

$$V = \begin{pmatrix} x_1^0 & x_1^1 & \cdots & x_1^n \\ x_2^0 & x_2^1 & \cdots & x_2^n \\ \vdots & \vdots & \ddots & \vdots \\ x_m^0 & x_m^1 & \cdots & x_m^n \end{pmatrix}, \quad \begin{pmatrix} p(x_1) \\ \vdots \\ p(x_m) \end{pmatrix} = V \begin{pmatrix} a_0 \\ \vdots \\ a_n \end{pmatrix}$$

سره تشريح شوې يا وركړل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کواورديناتونو ترانسفورميشن د بنسټ بدلون سره

Koordinatentransformation bei Basiswechsel

د يوه بنسټبدلون $E \to E'$ سره د يوه وکتور $v$ کواورديناتونه د

$$v_E = Av_{E'} \quad \Leftrightarrow \quad v_{E'} = A^{-1}v_E \,,$$

سره سم ترانسفورمي کوي، د کوم سره چې د مربع ماتريکس $A$ متې د بنسټ وکتورونو $e_i'$ ضريبونه نسبت و بنسټ ته خوندي لري:

$$e_i' = \sum_j a_{j,i} e_j \,.$$

ليکونکي: هيوليګ، هيورن

وکتور $v$ نسبت و بنسټ وکتور $E$ او $E'$ ته لاندې انځورونه لري:

$$\sum_k \lambda_k e_k = v = \sum_k \lambda_k' e_k' \,.$$

د $e_k'$ د انځوروني په مرسته نسبت و بنسټ $E$ ته لرو:

$$v = \sum_k \lambda_k' e_k' = \sum_k \lambda_k' \left( \sum_j a_{j,k} e_j \right)$$

$$= \sum_j \left( \sum_k a_{j,k} \lambda_k' \right) e_j = \sum_j \lambda_j e_j \,.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د كواوردينات پرتلي سره لاس ته راځي: $v_E = A v_{E'}$

ليكونكی:ويپر

## Bild او Kern معنا ځيره يا شكل او زړي

د يوه كرښيز تابع $L : V \to W$ لپاره د

$$\ker L = \{v \in V : \; L(v) = 0\} \; \subseteq V$$

سره سړی كرن يا زړی په نخښه كوي او د

$$\mathrm{Bild}\, L = \{w \in W : \; \exists v \in V$$

$$L(v) = w\} \; \subseteq W$$

د سره د $L$ ارزښت يا شكل ښوول كيږي يا په نخښه كيږي.
دواړه ډېری( ستونه) لاندې – يا برخه فضاوې دي.

ليكونكی: كيمرلې

ثبوتوو چې د K –وكتورفضا $V$ همداسې $W$ نسبت و كرښيزو عملياتو ته تړلي يا رابند دي يعنی دا عمليات په كې بې بنديزه اجراكېدی شي.

اول - $\ker L$ د $V$ لاندې فضا ده: د $u, v \in \ker(L), \; \lambda \in K$ لپاره، د كرښيزوالي په بنسټ باور لري:

$$L(\lambda\, u) = \lambda\, L(u) = \lambda\, 0 = 0$$

او

$$L(u+v) = L(u) + L(v) = 0 + 0 = 0\,.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې په تعقيب $\lambda u$ او $u+v$ هم د $\ker(L)$ توکي دي.

دويم - $\operatorname{Bild} L$ د $W$ لاندېفضا ده: د $u, v \in \operatorname{Bild} L$ لپاره د $u = L(x), v = L(y)$ او $\lambda \in K$ سره د $L$ کرښيزوالي په بنسټ لاندې صدق کوي:

$$\lambda u = \lambda L(x) = L(\lambda x)$$

او

$$u+v = L(x) + L(y) = L(x+y) .$$

دا چې $V$ يوه وکتورفضا ده، نو اړونده له مخ ښېروني يا عکسونه يا تابع وې هم شته او په تعقيب $\lambda u$ او $u+v$ هم د $\operatorname{Bild} L$ توکي دي.

ليکونکی: ويپر

## د Bild او Kern ابعاد يا براخېدوني Dimension von Bild und Kern

د يوه کرښيز فنکشن $L : V \to W$ لپاره باور لري

$$\dim V = \dim \ker(L) + \dim \operatorname{Bild}(L) ,$$

که وي: $\dim V < \infty$

د دې لپاره چې د بعد کټمټوالی وښايو، نو د $\ker L$ لپاره يو بنسټ $E' = \{e_1, \ldots, e_m\}$ ټاکو او دا د $\{e_{m+1}, \ldots, e_n\}$ سره د $V$ و بنسټ $E$ ته پوره کوو. دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$L\left(\sum_{i=1}^{n} v_i e_i\right) = \sum_{i=m+1}^{n} v_i L(e_i),$$

نو لرو:

$$\operatorname{Bild} L = \operatorname{span} F, \quad F = \{L(e_{m+1}), \ldots, L(e_n)\}.$$

دا چې پسې $F$ كرښيز خپلواک دی، يعني د $\operatorname{Bild} L$ بنسټ، نو له

$$\sum_{i=m+1}^{n} v_i L(e_i) = 0$$

لاس ته راځي $\sum_{i=m+1}^{n} v_i e_i \in \ker L$ او له دې سره $v_i = 0$.

دا غوښتونی د بعدفرمول اوس د بنسټوکتورونو تعداد څخه لاس ته راحي.

ليکونکي: هيوليک، هيورن

د بعدفرمول د ښوونې لپاره د پولينومونو - چې له $\leq n$ درجه لري- په فضا باندې $k$-م مشتق څېړل کيږي.

لومړی دې $k = 1$ او $n = 2$ وي. د پولينومونو د فضا لپاره چې درجه يې $\leq 2$ ده $\{1, x, x^2\}$ بنسټ جوړوي، دا فضا پس بعد 3 لري. د $p(x) = a_0 + a_1 x + a_2 x^2$ لپاره

$p'(x) = a_1 + 2a_2 x$ يو پولينوم دی چې درجه يې $\leq 1$ ده. بيلدفضا نو بعد 2 لري.

د مشتقنيولو سره ثابته له منځه ځي يا ورکيږي. دا يوه يو بعدې لاندې - برخفضا جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تابع ګرن يا زړی بعد 1 لري او له دې سره د $3 = 1 + 2$ سره د بعدفرمول پوره دی يا بنول شوی.

په توليزه توګه پولينوم لاندې فرمول لري:

$$p(x) = \sum_{l=0}^{n} a_l x^l$$

او $k$ -م مشتق

$$p^{(k)}(x) = \sum_{l=k}^{n} \frac{l!}{(l-k)!} a_l x^{l-k}\,.$$

بيلد يا څېره يا ارزښت د $\leq n-k$ درجې پولينوم دی او پولينومونه چې $< k$ درجه لري له منځه ورل کيږي. پس د بعدفرمول لاندې بڼه لري:

$$n+1 = \underbrace{((n-k)+1)}_{\dim \mathrm{Bild}} + \underbrace{k}_{\dim \ker}\,.$$

•

ليکونکي: هيوليک، هيورن

## معکوس يا په څټ تابع (څيرونه يا فنکشن)Inverse Abbildung

يوه کرښيزه تابع $L : V \to W$ ټيک هلته انجکتيو يا په کې ده، که $\ker L = 0_V$ وي. په دې حالت کې د

$$w \mapsto v, \quad w = L(v)\,,$$

له مخې يو معکوس تابع $L^{-1} : \mathrm{Bild}\, L \to V$ تعريف شوې، چې دا هم کرښيزه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځانګړي توګه باور لري

$$L^{-1} \circ L(v) = v\,, \quad L \circ L^{-1}(w) = w$$

د ټولو $v \in V$ او $w \in \mathrm{Bild}\, L$ لپاره

ليکونکي: هيوليک، هيورن

د $L$ د ګرښيزوالي په دليل صدق کوي

$$L(v_1) - L(v_2) = L(v_1) + L(-v_2) = L(v_1 - v_2)\,,$$

او له دې اړيکو لاس ته راځي:

$$L(v_1) = L(v_2) \Leftrightarrow v_1 - v_2 \in \ker L\,.$$

د يوه انجکتيو ( په کې) کرښيزې تابع لپاره کېدی شي چې کرن يازړی فقط صفروکتور خوندي ولري.

دا معکوس تابع کرښيزه ده له لاندې لاس ته راځي

$$L^{-1}(L(v_1) + L(v_2)) = L^{-1}(L(v_1 + v_2)) = v_1 + v_2 = L^{-1}(L(v_1)) + L^{-1}(L(v_2))\,,$$

$$L^{-1}(\lambda L(v_1)) = L^{-1}(L(\lambda v_1)) = \lambda v_1 = \lambda L^{-1}(L(v_1))\,.$$

ليکونکي: هيوليک، هيورن

## د ماتريکسونو وکتورفضا Vektorraum der Matrizen

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $(m \times n)$ -ماتریکسونه یو وکتورفضا جوړوي، دا په دې معنا چې دا کېدی شي سره جمعه شي او د سکالار سره ضرب شي. دا کارونې یا عملیې په لاندې توګه کمپوننتېوله تعریف دي:

$$C = A + B \Leftrightarrow \qquad c_{i,j} = a_{i,j} + b_{i,j},$$

$$B = \lambda A \Leftrightarrow \qquad b_{i,j} = \lambda a_{i,j} \, .$$

لیکونکي: هیولیګ، هیورن

د ماتریکسونو ضرب Matrix-Multiplikation

د یوه $(n \times m)$ -ماتریکس $A$ او یوه $(m \times s)$ -ماتریکس $B$ ضرب لاندې د $(n \times s)$ –ماتریکس دی:

$$C = AB \, , \qquad c_{ij} = \sum_{k=1}^{m} a_{ik} b_{kj} \, ,$$

دا په دې معنا چې د $c_{ij}$ دتعریف لپاره د $A$ د $i$ لیکې توکي او د $B$ د $j$ متې توکي سره جمعه کیږي:

$$\begin{pmatrix} & & \\ & c_{ij} & \\ & & \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} a_{i1} & \cdots & a_{ik} & \cdots & a_{im} \end{pmatrix} \begin{pmatrix} b_{1j} \\ \vdots \\ b_{kj} \\ \vdots \\ b_{mj} \end{pmatrix} .$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام دې وي، چې له دې سره باید د $A$ د متو تعداد ( ګڼون) د $B$ د لیکو تعداد( ګڼون) سره برابر وي.

د ماتریکس ضرب همغه د کرښیزو توابعو کمپوزیشن دی

$$T : u \mapsto v = Bu, \quad S : v \mapsto w = Av\ ,$$

دا په دې معنا چې $C$ د $T \circ S$ ماتریکس انځورونه ده.

د کمپوزیشن لپاره د

$$w_i = \sum_{k=1}^{m} a_{ik} v_k\,, \quad v_k = \sum_{j=1}^{s} b_{kj} u_j$$

له مخې تعریف شوي تابع په لاندې ډول لاس ته راوړې.

$$w_i = \sum_k \sum_j a_{ik} b_{kj} u_j = \sum_j \left[ \sum_k a_{ik} b_{kj} \right] u_j\ .$$

په ګوډیزه یا کونجیزه نوکانو یا که غواړی قوسونو کې افاده د ماتریکسونو ضرب دی او کمپوزیشن توابعو د ماتریکس $C$ سره سرخوري( یا باربر دی).

لیکونکي: هیولیګ، هیورن

په لاندې یو څو معلوم د ماتریکسونو ضربونه ورکړشوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\begin{pmatrix} 1 & 10 & 100 \\ 100 & 10 & 1 \end{pmatrix} \begin{pmatrix} 1 & 3 & 2 \\ 2 & 1 & 3 \\ 3 & 2 & 1 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 321 & 213 & 132 \\ 123 & 312 & 231 \end{pmatrix}$$

$$\begin{pmatrix} 1 \\ 2 \\ 3 \end{pmatrix} \begin{pmatrix} 7 & 13 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 7 & 13 \\ 14 & 26 \\ 21 & 39 \end{pmatrix}$$

$$\begin{pmatrix} 3 & 4 \end{pmatrix} \begin{pmatrix} 3 \\ 4 \end{pmatrix} = 25$$

$$\begin{pmatrix} 1 & \mathrm{i} \\ \mathrm{i} & 1 \end{pmatrix} \begin{pmatrix} 1 \\ \mathrm{i} \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 0 \\ 2\mathrm{i} \end{pmatrix}$$

د ستراسن( وییینه: شتراس) الګوریتم Strassens Algorithmus

که په ورسره بلد ډول د دوه $(2 \times 2)$ -ماتریکسونو $A$ او $B$ ضرب $C = AB$ تر څېړنې لاندې ونیسو، نو سړی اته ضربونو ته اړتیا لري. په ډېر هکبکوالي( چې د څه انتظار نه کېږي او پېښ شي) شتراسن وښوول چې اوه ضربونه بسیا کوي

[V. Strassen: Gaussian elimination is not optimal, Numer. Math. 13 (1969). 357-361]. Man berechnet die Produkte

سړی ضربونې شمیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\begin{aligned} p_1 &= (a_{1,2} - a_{2,2})(b_{2,1} + b_{2,2}) \\ p_2 &= (a_{1,1} + a_{2,2})(b_{1,1} + b_{2,2}) \\ p_3 &= (a_{1,1} - a_{2,1})(b_{1,1} + b_{1,2}) \\ p_4 &= (a_{1,1} + a_{1,2})b_{2,2} \\ p_5 &= a_{1,1}(b_{1,2} - b_{2,2}) \\ p_6 &= a_{2,2}(b_{2,1} - b_{1,1}) \\ p_7 &= (a_{2,1} + a_{2,2})b_{1,1} \end{aligned}$$

او د $C$ ضرب د زياتون يا جمعي جوړولو له لارې لاس ته راځي.

$$\begin{aligned} c_{1,1} &= a_{1,1}b_{1,1} + a_{1,2}b_{2,1} &= p_1 + p_2 - p_4 + p_6 \\ c_{1,2} &= a_{1,1}b_{1,2} + a_{1,2}b_{2,2} &= p_4 + p_5 \\ c_{2,1} &= a_{2,1}b_{1,1} + a_{2,2}b_{2,1} &= p_6 + p_7 \\ c_{2,2} &= a_{2,1}b_{1,2} + a_{2,2}b_{2,2} &= p_2 - p_3 + p_5 - p_7. \end{aligned}$$

## کوموتاتور Kommutator

د دوه $(n \times n)$ - ماتريکسونو کموتاتور د $[A, B] = AB - BA$ په حيث تعريف شوی او په ټوليزه توګه ناصفر. د $[A, B] = 0$ په حالت کې ماتريکسونه $A$ او $B$ کموتي کيدونکی ماتريکسونه بلل کيږي.

ليکونکي: هيوليک، هيورن


په مختلفو محورونو $g_1$ او $g_2$ د دوه وکتوررونو $S_1$ او $S_2$ دهندارونې ( که غواړی انعکاس) يو په بل پسې راوړنه کې د لړی پرلپسي رول نه لري.

دا پورته خيره يا عکس د يوګونو هندارونو شکلونه ښايی. په لاندې لړی کې کيښ ډبله هندارونه $S_2 \circ S_1$ انځور ده اوښي لور ته ډبله يا دوه واره هندارونه $S_1 \circ S_2$. د هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځله نتيجې يې د کرښو ترمنځ په دوه برابره کونج څرخون دی، په هر حالت په مختلو لورو.




که $g_1$ د لومړی کونجنيمي په ښير ونيسو او د $g_2$ د $y$ -محور نو توابع د ماتريکس انځورونه لري.

$$v = S_1 u = \begin{pmatrix} 0 & 1 \\ 1 & 0 \end{pmatrix} u\,,$$

$$v = S_2 u = \begin{pmatrix} -1 & 0 \\ 0 & 1 \end{pmatrix} u\,.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډبل هندارونه يا ا نعکاسونه لاندې انځورونه لري

$$w = S_2 S_1 u = \begin{pmatrix} -1 & 0 \\ 0 & 1 \end{pmatrix} \begin{pmatrix} 0 & 1 \\ 1 & 0 \end{pmatrix} u$$

$$= \begin{pmatrix} 0 & -1 \\ 1 & 0 \end{pmatrix} u \,,$$

$$w = S_1 S_2 u = \begin{pmatrix} 0 & 1 \\ 1 & 0 \end{pmatrix} \begin{pmatrix} -1 & 0 \\ 0 & 1 \end{pmatrix} u$$

$$= \begin{pmatrix} 0 & 1 \\ -1 & 0 \end{pmatrix} u \,.$$

په دې حالت کې کوموتاتور په لاندې ډول دی

$$[S_1, S_2] = \begin{pmatrix} 0 & 1 \\ -1 & 0 \end{pmatrix} - \begin{pmatrix} 0 & -1 \\ 1 & 0 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 0 & 2 \\ -2 & 0 \end{pmatrix} .$$

ليکونکي: هيوليک، هيورنر

## په څټ يا معکوس ماتريکسونه Inverse Matrix

د يوه معکوس کېدونکي کرښيز تابع $Av \mapsto v$ لپاره $A^{-1}$ د $A$ معکوس ماتريکس په نخښنه کوي، دا په دې معنا چې

$$AA^{-1} = A^{-1}A = E$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د

$$E = \begin{pmatrix} 1 & 0 & \cdots & 0 \\ 0 & 1 & \cdots & 0 \\ \vdots & & \ddots & \vdots \\ 0 & 0 & \cdots & 1 \end{pmatrix}$$

يون – واحد ماتريکس سره؟

ليکونکي: هيوليګ، هيورنر

معکوس کېدونکي په همدې ډول رېګولار ماتريکسونه $A \in K^{n\times n}$ نسبت و ضرب ته يو ګروپ جوړوي، کرښيز ګروپ چې د $\mathrm{GL}(n, K)$ سره په نخښه کيږي.

باور لري

$$(AB)^{-1} = B^{-1}A^{-1}$$

د $A, B \in \mathrm{GL}(n, K)$ لپاره .

باور لري

$$B^{-1}A^{-1}AB = B^{-1}EB = B^{-1}B = E\ ,$$

او له دې سره $B^{-1}A^{-1}$ و $AB$ ته معکوس دی

ليکونکي: هيوليګ، هيورنر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دياګونال ماتريکس معکوس داسې لاس ته راځي، چې د دياګونال توکو معکوس يا په ځټ ارزښت جوړيږي،، د بېلګې په توګه:

$$A = \begin{pmatrix} 3 & 0 \\ 0 & 1/7 \end{pmatrix}, \quad A^{-1} = \begin{pmatrix} 1/3 & 0 \\ 0 & 7 \end{pmatrix}.$$

د درېګودئ – يا مثلث متاريکس لپاره په معکوسوني کي د مثلث بڼه ساتلي پاتيې کيږي، د بېلګي په توګه:

$$B = \begin{pmatrix} 1 & 0 \\ 1 & 1 \end{pmatrix}, \quad B^{-1} = \begin{pmatrix} 1 & 0 \\ -1 & 1 \end{pmatrix}.$$

په ټوليزه توګه د ماتريکس په ځټ يا معکوس پوره ځاي نيولی يا ډک دی، د بېلګې په توګه:

$$C = \begin{pmatrix} -1 & 2 \\ -1 & 1 \end{pmatrix}, \quad C^{-1} = \begin{pmatrix} 1 & -2 \\ 1 & -1 \end{pmatrix}.$$

ليکني بايد د يوه کرښيز مساواتسيتم له لارې و ټاکمل شي.

ليکونکي: هيوليک، هيورنر

## تراسپوني او ادجونګيري ماتريکسونه

### Transponierte und adjungierte Matrix

که د يوه ماتريکس $A$ ليکي اوو متې سره بدلې شي، نو د ترانپوني ماتريکس $B = A^t$ ځخه غږيږو، دا په دې معنا چې

$$b_{i,j} = a_{j,i}.$$

که د يوه کمپلکس ماتريکس $A$ سربېره پر دې ليکني کنجوګير شي، نو اديونګيري ماتريکس ترې لاس ته راځي، دا په دې معنا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



$c_{i,j} = \bar{a}_{j,i}$ .

يو ماتريکس د $A = A^{\mathrm{t}}$ سره سيومتريک بلل کيږي، يوه ماتريکس د $A = A^*$ سره د پخپله اديونګيري په ځبر ده يا هرميتيکي Hermitesch ده. د حقيقي ماتريکسونو لپاره کليمي سيومتريک او هرميتيکي همغه (يوه) معنا لري.

لاندي قانون باور لري:

- $(AB)^{\mathrm{t}} = B^{\mathrm{t}} A^{\mathrm{t}}$ او $(AB)^* = B^* A^*$

- $(A^{\mathrm{t}})^{-1} = (A^{-1})^{\mathrm{t}}$ او $(A^*)^{-1} = (A^{-1})^*$

د يوې ليکنې لپاره په $C^{\mathrm{t}} = (AB)^{\mathrm{t}}$ کې باور لري

$$c^{\mathrm{t}}_{ji} = c_{ij} = \sum_k a_{ik} b_{kj} = \sum_k a^{\mathrm{t}}_{ki} b^{\mathrm{t}}_{jk} = \sum_k b^{\mathrm{t}}_{jk} a^{\mathrm{t}}_{ki}$$

او له دې سره $C^{\mathrm{t}} = B^{\mathrm{t}} A^{\mathrm{t}}$ . دا چې $\overline{a+b} = \bar{a} + \bar{b}$ او $\overline{ab} = \bar{a}\bar{b}$ باور لري، نو دا د اديونګيري لپاره هم تيک دی.

له

$$E = E^{\mathrm{t}} = \left(AA^{-1}\right)^{\mathrm{t}} = \left(A^{-1}\right)^{\mathrm{t}} A^{\mathrm{t}}$$

لاس $\left(A^{-1}\right)^{\mathrm{t}} = \left(A^{\mathrm{t}}\right)^{-1}$ ته راځي. په ورته توګه د ادجونګيري لپاره هم صدق کوي.

ليکونکي: هيوليک، هيورنر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپور Spur

( د ا لماني ژبې ځخه د شپور پښتو معنا: نخښه یا علامه)

شپور د یوه $n \times n$ -ماتریکس $A$ اصلي دوه کونټرې توکو( وتر) جمع د $A$ شپور بلل کیږي،

$$\mathrm{Spur}(A) = \sum_{i=1}^{n} a_{ii} \,.$$

که $A, B$ په خوښه $(n \times n)$ - ماتریکسونه وي، نو باور لري:

$$\mathrm{Spur}(AB) = \mathrm{Spur}(BA).$$

له دې لاس ته راځي، د یوه رېګولار ماتریکس $T$ او یوه په خوښه ماتریکس $A$ لپاره صدق کوي:

$$\mathrm{Spur}(T^{-1}AT) = \mathrm{Spur}(A).$$

دا دا معنا لري، چې شپور یا سپور د کواوردینات ترانفورمیشن لاندېinvariant ( نسبت یوې کچونې یا اندازه کونې ته بې تغیره پتتې کیدل) یا بې تغیره پاتیږي.

## د یوه ماتریکس رانګ Rang einer Matrix

د یوه $(m \times n)$ -ماتریکس لپاره د کرښیز خپلواکو متو ماکسیمال ګڼون یاتعداد د ماکسیمالو ګرښیزو خپلواکو کیلو سره یو په بل پریوحي یا یو بل سره مساوي دي او د رانګ $A$ په لکنیز ډول $\mathrm{Rang}\, A$ بلل کیږي،

په ځانګړي ډول باور لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\operatorname{Rang} A \leq \max\{m, n\}.$$

د ماکسیمال کرښیز خپلواکو متو $v_1, \ldots, v_n$ تعداد د وکتورفضا پعد به ګوته کوي

$$V = \operatorname{span}\{v_1, \ldots, v_n\},$$

ځکه چې سړی کړی شي د متو څخه بنسټ وټاکي. په ورته توګه وینا د لیکو $w_1, \ldots, w_m$ څخه غزیدلي وکتورفضا $W$ لپاره هم صدق کوي.

غوښتنه $\dim V = \dim W$ د $n$ پسي اندکشن له لارې وښوول شي.

ساده ښوول کیږي، چې $\dim V$ او $\dim W$ د لاندې عملیو یا کارونو سره بې تغیره پاتیږي:

- د متو یا لیکو بدلېدنه یا پرموتیشن

- د یوه سکالار جمعه ډېرځله یا د یوه ډېرځله سکالار سره د یوې متې ( لیکې)حمعه د یوه بلې متې (لیکې ) سره.

که $A \neq 0$ وي، سړی کړی شي دا عملیه په لاندې بڼۀ

$$B = \begin{pmatrix} b_{1,1} & 0 & \ldots & 0 \\ 0 & & & \\ \vdots & & A' & \\ 0 & & & \end{pmatrix}$$

راوړي.

د پرموتیشن سره لومړی $b_{1,1} \neq 0$ لاس ته راځي او بیا د لومړی لیکې یا کیلې او متې پاتې توکي د مناسب جمعې له لارې له منځه وړي. په ټیک ډول لومړي د لومړی متې

(c) ketabton.com: The Digital Library



$(-b_{1,j}/b_{1,1})$-ځله و $j$-مي متې ( $j = 2, \dots, n$ ) ته جمعه کوي او په ورته توګه د ليکو وکتورونو سره هم دا عمل وخ ته بيولاي شو . که د $V'$ او $W'$ سره ْوښتوني وکتورفضاوې د $(m-1) \times (n-1)$ - ماتريکس $A'$ لپاره ، نو لاس ته راځي

$$\dim V = \dim V' + 1, \quad \dim W = \dim W' + 1$$

او د ايندکشن له لارې غوښتنه.

ليکونکي: هيوليګ، هيورنر

يو څو تيپيکي حالتونه د درې $(3 \times 2)$-متريکسونو سره دليدلو شوي يا ورکړ شوي دي

$$\text{Rang}\begin{pmatrix} 0 & 0 \\ 0 & 0 \\ 0 & 0 \end{pmatrix} = 0 \quad \text{Rang}\begin{pmatrix} 1 & 2 \\ 2 & 3 \\ 3 & 4 \end{pmatrix} = 2, \quad \text{Rang} = \begin{pmatrix} 3 & 4 \\ 6 & 8 \\ 9 & 12 \end{pmatrix} = 1 \,.$$

د دريم ماتريکس لپاره صدق کوي $4S_1 = 3S_2$ د متو $S_1$ او $S_2$ لپاره او د ليکو $2Z_3 = 3Z_2 = 6Z_1$ $Z_1, Z_2$ او $Z_3$ لپاره. په دواړو حالتونو کې نو د غوښتوني وکتورفضا ديمنژن يا بعد برابر په $1$ دی.

ليکونکي: هيوليګ، هيورنر

## د يوه ماتريکس نورم Norm einer Matrix

د يوه وکتور نورم د ماتريکس نورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\|A\| = \sup_{x\neq 0} \frac{\|Ax\|}{\|x\|} = \max_{\|x\|=1} \|Ax\|$$

ته بنسټ ووي  د نورم خویونو سربېره ( مثپتوالی، هوموچېنیتي، مثلثنمساوات)

$$\|AB\| \leq \|A\|\|B\|,$$

باور لري، دا په دی کعنا چی د ورسره تنظیم شوی ماتریکس نورم  سبضریبي submultiplikativ دی.

لیکونکي: هیولیګ، هیورنر

په لاندې کې به یوګوني خویونه د ازمایښ له لارې ښوول شي:

مثبتوالی: د وکتور فضا تعریف له لارې تظمین دی، چې $\|A\| \geq 0$ دی. که $A$ صفرمآتریکس وي، نو فقط صفروکتور 0د څېرې په څېر مخ ته لرو. که له بلې خوا نورم صفر وي، نو فقط صفروکتور د څېرې په څېر رامنځ ته کیږي، او تابع یا فنکشن د صفرماتریکس سره تشریح کیږي.

## Homogenitätهوموحنیتي:

$$\max_{\|x\|=1} \|\lambda Ax\| = \max_{\|x\|=1} |\lambda|\|Ax\| = \|\lambda A\|$$

$$= |\lambda| \max_{\|x\|=1} \|Ax\| = |\lambda|\|A\|.$$

$$\|\lambda A\| = \max_{\|x\|=1} \|\lambda Ax\| = \max_{\|x\|=1} |\lambda|\|Ax\|$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$= \quad |\lambda| \max_{\|x\|=1} \|Ax\| = |\lambda| \|A\| .$$

Dreiecksungleichungمثلثات برابرون :

$$\|A+B\| = \max_{\|x\|=1} \|(A+B)x\| = \max_{\|x\|=1} \|Ax + Bx\|$$

$$\leq \max_{\|x\|=1} (\|Ax\| + \|Bx\|)$$

$$\leq \max_{\|x\|=1} \|Ax\| + \max_{\|x\|=1} \|Bx\| = \|A\| + \|B\| .$$

Submultiplikativitätسب ضریبوالی:

د $B = 0$ لپاره $AB = 0$ دي او له دې سره نامساوات پوره دی. د $B \neq 0$ لپاره دی:

$$\|AB\| = \sup_{x \neq 0} \frac{\|ABx\|}{\|x\|} = \sup_{x:\, Bx \neq 0} \frac{\|A(Bx)\|}{\|Bx\|} \frac{\|Bx\|}{\|x\|}$$

$$\leq \sup_{y \neq 0} \frac{\|Ay\|}{\|y\|} \sup_{x \neq 0} \frac{\|Bx\|}{\|x\|} = \|A\| \|B\| .$$

د لومړي بڼې بدلون سره ، چې په حقیقت کې ډېرى يا سټ په يوه سوپرېموم Supremumڅېره کیږي محدودیږي، مګر فقط وکتورونه ترې لرې کیږي، چې صفروکتور دڅېرې په ډول لري او له دې سره سوپرېموم نه اغیزمن کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکونکي: هیولیګ ، کرایځ

## د لیکو د جمعي نورم Zeilensummen-Norm

د وکتورونو لپاره ماکسیمومو نورم $\|v\|_\infty = \max_i |v_i|$ د ماتریکسونو لپاره د لیکوجمعي نورم

$$\|A\|_\infty = \max_i \sum_j |a_{ij}|$$

تنظیم دی.

لیکونکي: هیولیګ ، کرایځ

د $\|x\|_\infty = \max_j |x_j| = 1$ لپاره

$$\|Ax\|_\infty = \max_i \left| \sum_j a_{ij} x_j \right| \le \max_i \sum_j |a_{ij}| ,$$

دی

او سړی لاس ته راوړي

$$\|A\|_\infty = \max_{\|x\|=1} \|Ax\|_\infty \le \max_i \sum_j |a_{ij}| .$$

که سړی ونیسي یا فرض کړي، چې ماکسیموم د $i = k$ لپاره فرض شوی یا نیول شوي، نو مساوات د

$$x_j = \operatorname{sign} a_{kj}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب له لارې لاس ته راځي، څکه چې دی:

$$\left|\sum_j a_{kj}x_j\right| = \sum_j \|a_{kj}| \ .$$

ليکونکي: هيوليک ، کرايخ

## د ماتريکس د ډکوني جوړښت Belegungsstruktur von Matrizen

د صفر سره مختلف ماتريکس توکو $a_{i,j}$ د تنظيم سره سم د لاندې ترمنځ توپير کوي

اول – دياګونالماتريکس: $a_{i,j} = 0$ د $i \neq j$ لپاره،

باند ماتريکسونه Bandmatrizen: د لپاره د سره د صفر نه مختلفو ماتريکسونو د دياګونالو شمېر، چې د باند سور په څېر په نخښه کيږي يا نومول کيږي،

پورته ( کښته) مثلث ماتريکسونه: $a_{i,j} = 0$ د $i < j$ ( $i > j$ ) لپاره.

په توليزه توګه يو $(m \times n)$ - ماتريکس ضعيف ډکشوی، که فقط توکي $c \max(m,n)$ د صفي سره نامساوي وي، د يوې نه ډيرې لوې ثابتې $c$ سره.

ليکونکي: اپپ، هيوليک

## اورتوګونال او يونيتار ماتريکسونه Orthogonale und unitäre Matrizen

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو کمپلکس $(n \times n)$ - ماتريکس $A$ يونيتار بلل کيږي، که ولرو

$$A^{-1} = \overline{A}^{t} = A^{*} ,$$

دا په دې معنا چې که د $A$ متې د $\mathbb{C}^{n}$ يو اورتوګونال بنسټ جوړ کړي.

د حقيقي ماتريکسونو لپاره ( لکه په سکالار ضرب کې) کمپلکس کنجګيشن،

$$A^{-1} = A^{t} ,$$

او سړی د يوه اورتوګونال ماتريکس څخه غږيږي.

اورتوګونال ( يونيتار) ماتريکسونه د( $\mathrm{GL}(n, \mathbb{C})$ ) يو لاندې – برخګروپ جوړوي

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## د هادامارد – ماتريکسونه Hadamard-Matrizen

د $n = 2^{k}$ لپاره تر سکالار کېدنوپورې اورتوګونال ماتريسکونه شتون لري د $H_k$

د $n \times n$ بعد په $\{-1, 1\}$ کې د ليکنو سره داسې په نامه هادامارد ماتريکسونه.

د هاداماد لومړی ماتيکسونه دي:

$$H_2 = \begin{pmatrix} 1 & 1 \\ 1 & -1 \end{pmatrix}, \quad H_4 = \begin{pmatrix} 1 & 1 & 1 & 1 \\ 1 & -1 & 1 & -1 \\ 1 & 1 & -1 & -1 \\ 1 & -1 & -1 & 1 \end{pmatrix} .$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولیزه توګه ماتریسونه د ریکورزیون

$$H_{2k} = \begin{pmatrix} H_k & H_k \\ H_k & -H_k \end{pmatrix}$$

سره جوړکړي.

لیکونکي: اپپ، هیولیګ

## د فوریر (وینه: فوریې) ماتریکسونه Fourier-Matrizen

د توان جوړولو له لارې د یوون - یا واحد ریښې

$$w_n = \exp(2\pi i/n)$$

سړی داسې په نامه فوریې ماتري:س لاس ته راوړي

$$W_n = \begin{pmatrix} w_n^{0\cdot 0} & \cdots & w_n^{0\cdot(n-1)} \\ \vdots & & \vdots \\ w_n^{(n-1)\cdot 0} & \cdots & w_n^{(n-1)\cdot(n-1)} \end{pmatrix}.$$

دا د نورمي کولو( $W_n \to W_n/\sqrt{n}$ ) پسې یونیتار دي، دا په دې معنا چې $W_n^* W_n/n$ یوون – یا واحد ماتریکس دی.

لیکونکي: اپپ، هیولیګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متِو اورتوګوناليټي ساده ازمايل کيږي. د $(j+1)$ ـمو او $(k+1)$ ـمو متِو سکالار ضرب

$$\sum_{\ell=0}^{n-1} w_n^{\ell j}\overline{w_n^{\ell k}} = \sum_{\ell} w_n^{(j-k)\ell} = \frac{w_n^{(j-k)n}-1}{w_n^{j-k}-1},$$

دی، او داچې $w_n^n = 1$ دی، نو صورت يا ماتباندې صفر دی.

ليکونکي: اېپ، هيوليک

د $n=4$ لپاره $w_4 = \exp(2\pi\mathrm{i}/4) = \mathrm{i}$ دی، او سرې لاس ته راوړي

$$W_4 = \begin{pmatrix} 1 & 1 & 1 & 1 \\ 1 & \mathrm{i} & -1 & -\mathrm{i} \\ 1 & -1 & 1 & -1 \\ 1 & -\mathrm{i} & -1 & \mathrm{i} \end{pmatrix}.$$

په 2 د وېشنې وروسته $W_4$ يونيتار دی، دا په دې معنا چې

$$\left(\frac{1}{2}W_4^*\right)\left(\frac{1}{2}W_4\right) = E.$$

له دې امله د فوريې ماتريکسونو د سيومترى والى له امله $W_4^* = \overline{W_4}^{t} = \overline{W_4}$ دی.

ليکونکي: اېپ، هيوليک

## نورم ريښتونې يا - وفاداره اورتوګونال ا و يونيتار ماتريکونه

## Normtreue orthogonaler und unitärer Matrizen

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو حقيقي ( كمپلكس) ماتريكس $A$ ټيک هلته اوتوګونال ( يونيتار ) دی، که دا د هر وکتور اوکليد( اقليدسeuklidische ) نورم انواريانت پريږدی:

$$|Av| = |v|.$$

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

بسيا کوي، چې کمپلکس حالت وڅيړو، چې حقيقي حالت په بر کې نيسي.

اول - $A$ يونيتار ده، نو باور لري

$$(Ay)^*(Ax) = y^*A^*Ax = y^*x$$

پس په ټوليزه توګه د کمپلکس وکتورونو سکالار ضرب لاس ته راځي، چې د نورمريښتونوالی په بر کې لري.

دويم – د نورم ريښونوالي څخه لومړی لاس ته راځي، چې د $A$ د متې وکتور $v_j$ د يوون وکتورونو $e_j$ د عکسونو نورم يوی خوندي لري. د دې لپاره چې وښايو چې مختلفې متې اوتوګونال دي،نو $\lambda = \exp(i\vartheta)$ ټاکو، داسې چې لرو:

$$(\lambda v_k)^* v_j \in \mathbb{R}.$$

پسې د نورريښتونوالی او اقليدس نورم تعريف په بنسټ لرو

$$2 = |e_j + \lambda e_k|^2 = |v_j + \lambda v_k|^2 = |v_j|^2 + |\lambda|^2|v_k|^2 + 2\,\mathrm{Re}(\lambda v_k)^* v_j = 2 + 2\overline{\lambda} v_k^* v_j,$$

په تعقيب بايد په ښی لور سکالار ضرب ورک شي.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځيوکليکي ( تلبيرته راګرځېدوني) ماتريکسونه Zyklische Matrizen

د ځيکليکي $(n \times n)$-ماتريکسونو متې د لومړی متې د ځيوکليکي راکښنې له لارې جوړيږي:

$$\begin{pmatrix} a_0 & a_{n-1} & a_{n-2} & \cdots \\ a_1 & a_0 & a_{n-1} & \cdots \\ a_2 & a_1 & a_0 & \cdots \\ \vdots & \vdots & \vdots & \end{pmatrix}.$$

د ماتريکسونو ضرب سره ځيوکليکي جوړښت ساتلی يا خوندي پاتې کيږي.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

د يوه ځيوکليکي ماتريکس-ضرب $C = AB$ توکی دي:

$$c_{i,k} = \sum_{j=1}^{n} a_{i-j \bmod n} b_{j-k \bmod n}.$$

د اچې

$$\{0, \ldots, n-1\} = k + \{0, \ldots, n-1\} \bmod n,$$

کېدی شي سری په زياتوونو ( د جمعي اجزاوو) د $j$ په ځای $j+k$ ځای په ځای کړي، کوم چې ښايي، چې $c_{i,k}$ فقط د $i - k \bmod n$ په واک کې دي.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

د ځيوکليکي ماتريکسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$A = \begin{pmatrix} -3 & 4 & 1 \\ 1 & -3 & 4 \\ 4 & 1 & -3 \end{pmatrix}, \quad B = \begin{pmatrix} 0 & -2 & 5 \\ 5 & 0 & -2 \\ -2 & 5 & 0 \end{pmatrix}$$

ضرب   دا لاندې څیوکلیکي ماتریک دی:

$$C = AB = \begin{pmatrix} 18 & 11 & -23 \\ -23 & 18 & 11 \\ 11 & -23 & 18 \end{pmatrix}.$$

لیکونکي:  اپپ، هیولیګ

## ستوښاستیکي ماتریکسونه

یو $(n \times n)$-ماتریکس   ستوښایتیکي بلل کیږي، که $p_{i,j} \geq 0$ وي او

$$\sum_{j=1}^{n} p_{i,j} = 1, \quad i = 1, \ldots, n.$$

ستوښاستیکي ماتریکس د احتمالوالو $x_i$ تغیر  ښایي د لاندې له مخې:

$$x'_j = \sum_i x_i p_{i,j}.$$

لیکونکي:  اپپ، هیولیګ

د $P$ د ښویونو په بنسټ $x'$ هم یو  د احتمالوالي وکتور دی، دا په دې معنا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$x'_j \geq 0, \quad \sum_j x'_j = 1\,.$$

دا نه کمښتوالی یا نه منفیوالی ښرګند دی او د جمعي انواریانت له لاندې ښخه تعقیبیږي:

$$\sum_j \sum_i x_i p_{i,j} = \sum_i x_i \underbrace{\sum_j p_{i,j}}_{=1}\,.$$

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## ديترمينانت د انتيسيومتري کرښيزفورم په حيث

## Determinante als antisymmetrische Multilinearform

د یوه مربع ماتریکس $A$ ديترمينانت

$$\det A = \det(a_1, \ldots, a_n)$$

د متې $a_j$ سره کېدی شي د لاندې خويونو له لارې تعريف شي.

اول – ډېرکرښيزوالی

$$\det(\ldots, \alpha a_j + \beta b_j, \ldots) = \alpha \det(\ldots, a_j, \ldots) + \beta \det(\ldots, b_j, \ldots)\,.$$

دويم - انتيسيومتري:

$$\det(\ldots, a_j, \ldots, a_k, \ldots) = -\det(\ldots, a_k, \ldots, a_j, \ldots)\,.$$

دريم – نورمي کونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\det(e_1, \ldots, e_n) = 1\,, (e_k)_\ell = \delta_{k\ell}\,.$$

د دې قانون سره ديترمينانت د $n$ –ځله ضرب سره وده کولی شي:

$$\det A = \sum_{i \in S_n} \sigma(i) a_{i_1,1} \cdots a_{i_n,n}\,,$$

د کوم سره چې د $(1, \ldots, n)$ په ټولو ځای بدلونو $(i_1, \ldots, i_n)$ سره جمعه کېږي او $\sigma$ د ځاي بدلونون سره مخنخښه ښايو.

سرې دا لاندې ليکدود هم استعمالوي

$$\det A = |A| = \begin{vmatrix} a_{1,1} & \cdots & a_{1,n} \\ \vdots & & \vdots \\ a_{n,1} & \cdots & a_{n,n} \end{vmatrix}\,.$$

ليکونکي: هيوليګ، هيونر

د زياتيدونو ( د جمعې اجزاوو) د تعداد د جګيدو له امله( $n!$ ځای بدلونونه شتون لري) د ديترمينانت د عملي آنځورونو لپاره ښه مساعدنه دی. مګر دا تړلی د تعريف شوو خويونو تړلی ( د عمليو له لارې) دا د ښووني او د نوروو خويونو د لاس ته راوړلو لپاره اړيين دي. له دې امله دا د ورته (برابر ازښته) تعريف لپاره ورکړشوی دی.

لومړ ی ښايو، چې غوښتل شوي خويونه مو اړيين د ديترمينانت وديزوني ته بيايي، په اړيينه توګه د برموتيشن په مرستې .

د دې سره د $A$ متي د يوون – يا واحد وکتورونو $e_i$ د کرښيز کمبينيشنونو په حيث انځوروي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$a_j = \sum_{i=1}^{n} a_{i,j} e_i \,.$$

د ډېرکرښيزوالي په بنسټ باور لري:

$$\det A = \sum_{i_1=1}^{n} \cdots \sum_{i_n=1}^{n} a_{i_1,1} \cdots a_{i_n,n} \underbrace{\det(e_{i_1}, \ldots, e_{i_n})}_{=: d_i} \,.$$

دا جمعه لکه چې لاس ته راځي کیدی شي ساده شي. که له دې دوه یوون - یا واحدوکتورونه برابر وي، نو د انتیسیومتري په بنسټ $d_i$ صفر دی:

$$\det(\ldots, e_k, \ldots, e_k, \ldots) = -\det(\ldots, e_k, \ldots, e_k, \ldots) \,.$$

که ټول $i_\nu$ مختلف وي، دا په دې معنا چې

$$(i_1, \ldots, i_n)$$

یو پرموتیشن دی د $(1, \ldots, n)$ ، نو صدق کوي

$$d_i = (-1)^{\tau(i)} \,,$$

د کوم سره چې $\tau(i)$ مودولو $2$ د بدلونونو یواځنی ټاکلی تعداد(ګڼون) په نخښه کوي ، د کوم لپاره چې واحدوکتور په کانونیکي لړی پرلپسې راوړی شو. ځای بدلون د مخنخښې تعریف پسې دی:

$$\det(e_{i_1}, \ldots, e_{i_n}) = \sigma(i) \det(e_1, \ldots, e_n) = \sigma(i) \,,$$

دا په دې معنا چې سړی ورکړ شوې ودیزینه لاس ته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برعکس کېدی شي و ازمايو، چې وديزينه د غوښتوني قانون سره تړلې ده. ډېرکرښيز والی باور لري، ځکه چې په ضرب

$$a_{i_1,1}\cdots a_{i_n,n}$$

کې د هرې متې تيک يو توکی منځ ته راځي. انتی سيومتری لاس ته راځي، ځکه چې د متو له پدلون دبدلولو تعداد کانونيکي لړی پرلپسي په يو تغير خوري، بالاخره په واحد ماتريکس کې جمعه په يوه زياتووني ( د جمعې غړي) کميږي

$$a_{1,1}\cdots a_{n,n}=1\cdots 1=1$$

.

ليکونکي: هيوليک، هيونر

## 2 - ليکيزه ديترمينانت 2-reihige Determinante

د يوه -ماتريکس ديترمينانت

$$\begin{vmatrix} a & b \\ c & d \end{vmatrix} = ad - bc.$$

دی.

دا د برموتيشن وديزيني پسي په ساده ډول ليدل کيږي، ځکه چې $2$ زياتيدونی شتون لري.

دبديل په توگه کېدی شي ديترميناتونه د تعريف شوو خويونو له مخې هم و شمېرل شي.

که متې د کانونيکي واحد وکتور(يوون-) $e_k$ کرښيز کمبينيشن په څېر انځور شي، نو د مولتی (ډېر-)کرښيزوالي له امله لاس ته راځي

$$\det(ae_1+ce_2,be_1+de_2) = a\det(e_1,be_1+de_2)+c\det(e_2,be_1+de_2)$$

$$= ab\det(e_1,e_1)+ad\det(e_1,e_2)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library




$$+\, cb \det(e_2, e_1) + cd \det(e_2, e_2)$$

$$= ab \cdot 0 + ad \cdot 1 + cb \cdot (-1) + cd \cdot 0 = ad - bc\,.$$

لیکونکي: هیولیک، هیونر

## د ساروس شیما یا شکلSarrus-Schema

د یوه $(3 \times 3)$ - ماتریکس دیترمینانت لکه څنګه چې په تابع یا فنکشن کې ښوول شوي د ضربونو جمعه ده، چې مختلف دیاګونالونه ( دوه کونجتړې) په ګوته کوي:




$$= \begin{array}{l} a_{1,1}a_{2,2}a_{3,3} + a_{2,1}a_{3,2}a_{1,3} + a_{3,1}a_{1,2}a_{2,3} \\ -a_{3,1}a_{2,2}a_{1,3} - a_{1,1}a_{3,2}a_{2,3} - a_{2,1}a_{1,2}a_{3,3} \end{array}$$

دې د ساروس په نامه یادې شوې شیما ته ورته د $n$ جګ بعدي لپاره شتون نه لري. سملاسي د $n = 4$ دیترمینانت د $24$ ضربونه یوه جمعه لري.

د ساروس –شېما په ساده توګه د ځاي بدلون ودیزیېنه پسي په ساده توګه و ازمايي. لاندې جدول ټول زیاتووني یا جمعی اجزاوې ښايي همداسې دا د ځايبدلون $i$ سره اسوځییري بدلوني، له کومو چې دا مخنخښه $\sigma$ لاس ته راځي.

| $i$ | بدلونونه | $\sigma(i)$ | Summand |
|---|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library



| زياتيدوني يا د جمعي اجزا | | Vertauschungen | |
|---|---|---|---|
| $+a_{1,1}a_{2,2}a_{3,3}$ | $+$ | | $(1,2,3)$ |
| $+a_{2,1}a_{3,2}a_{1,3}$ | $+$ | $\to (3,2,1) \to (1,2,3)$ | $(2,3,1)$ |
